حاکمان مجبور شول چې خپله دفارس په خاوره کې د
اسلام دمقدس دین او مسلمانانو د پرمختګ محدودیسي
په دې وړل دفارس (ایران) پاچا یزدګرد[1] یولسوی
لښکرچې خپله پې مشروو دمسلمانانو دمقابلې دپاره
تیارکړ.

مسلمان مجاهدین دنعمان بن مقرن رضی الله عنه په مشری
د هجرت په یوویشتم کال داسلام دمبارک دین د
خپرولو دپاره دایران خاوری ته ورننوتل په نهاوند
نومې ځای کې نومورې فارسي لښکرچې خپله پاچا
پې مشری کوله داسلامي مجاهدینو مخې ته راووت او

۱. یزدګرد دساسانی کورنۍ آخرې پاچا ووچې د هجرت په ۳۱ کال په خراسان
کې دیوې ژرندې ګړې په لاس وژل شوې ده وژل کیدو سره سم ساسانی سلسله
پای ته ورسیده.

جگړه پیل شوه . دډیر شدید جنګ څخه وروسته د خدای ﷻ
په نصرت رښتیني مسلمانان فاتح شول فارسي فوځونو
ماتې وخوړه او یزدګرد وتښتید . دا فتح د فتح الفتوح په
نامه هم یادیږي او د همدې فتحې سره سم په لږه موده
کې د اسلام مبارک دین په ټول ایران کې خپور شو
او د آتش پرستۍ او بت پرستۍ نښې د ایران د خاورې
څخه د مینځه لاړې او ایران د اسلامي خلافت جزو ګرځید.

شام :

کله چې رومیانو ولیدل چې مسلمان مجاهدین
په ایران او عراق کې په فتوحاتو بوخت دي وخت یې
غنیمت وګاڼه او په دې هڅه کې شول ترڅو د شام فتحه
شوي سیمې بیرته د مسلمانانو له لاسه راوباسي ځکه

يې خپلې زياتې لښکرې په دمشق کې ځای پرځای کړې
ترڅو پر مسلمانانو يرغل وکړي .

څه وخت چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د رومیانو لږې
ناوړه قصد څخه خبر شو هغه مجاهدینو ته چې ابوعبیده بن
جراح رضي الله عنه ترمشری لاندې په شام کې وو د دمشق خواته
د تللو فرمان ولیږه چې په نتیجه کې زړه ورې مجاهدینو د دمشق
ښار محاصره اوو روسته (۷۰) ورځو محاصرې څخه نو موړې
ښار فتحه شو او لږې فتحې څخه وروسته مسلمانو مجاهدینو
د شام خیني نور ښارونه هم فتحه کړل ، رومي فوځونو
په تیښته ځانونه بیت المقدس ته ورسول اوهلته يې
سنګر ونیو .

د بیت المقدس فتح :

بیت المقدس چې د فلسطین مرکز او د حضرت عیسیٰ علیه السلام
د تولد ځای او څه موډې د پاره د مسلمانانو قبله وه
د وهم خلیفه رضی الله عنه غوښتل چې دغه مقدس ځای هم د رومیانو
له تسلط څخه خلاص کړي په دې توګه يې مسلمان
مجاهدین د عمرو بن عاص رضی الله عنه په مشرۍ د بیت المقدس د
فتحې د پاره ولیږل .

د هجرت شپاړسم کال وو چې بیت المقدس د
مسلمانانو له خوا محاصره شو اما مسلمانانو نه غوښتل چې
په دې مقدس ځای کې وینې تویې شي ځکه يې محاصره
لاپسې اوږده او سخته کړه تر څو بې له وینې تویید و څخه
بیت المقدس فتح شي .

د محاصرې د سختوالي له امله رومیانو داشرط وړاندې کړې دی به هغه وخت تسلیم شي چې امیر المؤنینؓ پخپله بیت المقدس ته راشي .

کله چې دا خبر حضرت عمر فاروقؓ ته ورسید په ډیره خوښۍ سره بیت المقدس ته لاړ په دې ډول له جګړې څخه پرته دا مقدس ځای هم د اسلامي خلافت یوه برخه وګرځیده .

د مصر فتحه :

مصریانو لرغوني هیواد دی چې د نیل د سیند د بهیدو له امله د پخوا زمانو راهیسې سمسور او آباد دی او د پخوا زمانو آثارو نښې اوس هم په کې شته دي . د اسلام د مبارک دین د خپریدو په وخت کې

د رومیانو په لاس اداره کیده .

وروسته له هغه چې مسلمانان د بیت المقدس د فتحې څخه فارغ شول د اسلامي لښکر مشر عمرو بن عاص د حضرت عمر رض په مشوره د مصر خواته حرکت وکړ ترڅو د اسلام مبارک دین په مصر کې هم خپور کړي .

د هجرت ۱۷ کال وو چې مسلمان مجاهدین د مصر خاوری ته ننوتل او په دې خاوره کې د مسلمانو مجاهدینو او رومي لښکرو ترمنځ په هرځای کې سختې جګړې پیښې شوې مګر څه رنګه چې د مسلمانانو نویو اځنې هیله د اسلام د مبارک دین خپرول وو ځکه نو د خدای ج په نصرت سره د رومیانو د لښکرو سره چې د اسلام د منلو څخه یې سرغړاوه د دوی ترور وستې ماتې پورې په

زرورتیا وجنګیدل . په پای کې یې د هجرت تر ۲۲ کال پورې د مصر ټوله خاوره د رومیانو د لاسه وویستله او د اسلام مبارک دین یې مصر کې خپور شو .

تمرین

۱ - حضرت عمر رضی الله عنه د چا زوی وو ؟

۲ - حضرت عمر رضی الله عنه په څه ډول خلیفه شو ؟

۳ - په قادسیه کې وروسته بریې د چا په برخه شو ؟

٤ - د قادسیې په جګړه کې د اسلامي لښکر مشر څوک وو ؟

٥ - د مداین ښار څنګه فتحه شوه ؟

٦ - د نهاوند جګړه په کوم هیواد کې پیښه شوه ؟

۷ - د نهاوند جګړه په بل کوم نوم یادیږي ؟

۸ - بیت المقدس څه ډول فتحه شو ؟

۹ - د مصر خاوری ته د کوم خلیفه په وخت کې مجاهدین ننوتل ؟

۱۰ - په مصر کې د اسلامي لښکر مشر څوک وو ؟

د حضرت عمرؓ د خلافت کارنامې

عَنْ اِبْنِ عُمَرَؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهٖ

ترجمه: ـ ترمذی ـ

روایت دی د عبد الله بن عمرؓ څخه چې فرمایلي دي حضرت رسول الله ﷺ بې شکه چې خدائ ﷻ جاري کړې دي حق په ژبه د حضرت عمرؓ او په زړه ئې.

د دوهم خلیفه ؓ د خلافت په وخت کې د اسلام مقدس دین ډیر وځایونو ته ورسید او د اسلامي خلافت لمنه پراخه شوه او د اسلامي هیواد ونو لکه عراق، ایران، شام فلسطین او مصر ته هم د اسلام مبارک دین ورسید.

څرنګه چې د دې خلیفه ؓ په روښانه دوره کې

اسلامی فتوحات ډیر شول ځکه نو دې پراخه اسلامي
خلافت د اداري د پاره د حضرت عمرؓ په ښه تدبیر سره منظم
دفترونه منځ ته راغلل . د لومړي ځل د پاره د هغې
خلیفهؓ په وخت کې منظم بیت المال (خزانه) او مالیاتي
اداري جوړې شوې . پوه او باتقوا خلک د چارو د ښه
سرته رسولو د پاره وګمارل شول هر وخت به يې والیانو
او حاکمانو ته د عدالت توصیه کوله . د اسلامي فوځ نو
د روزنې او استوګنې لپاره يې منظمې پوځي چوکۍ جوړې
کړې . د اسلامي خلافت په هره برخه کې د خلکو د
سوکالۍ او آرام تیا د پاره لیارې ، ویالې ، پلونه ، نهرونه
دیني مدرسې ، مسجدونه او نورې ښارونه جوړ شول.
د دوهم خلیفه رض، په وخت کې د آنحضرتؐ د هجرت نیټه

د مسلمانانو د تاریخ مبدأ وګرځیده .

د دوهم خلیفه رضی الله عنه صفات

عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِیْهٍ یَا
اِبْنَ الْخَطَّابِ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ
مَا لَقِیَكَ الشَّیْطَانُ سَالِكًا فَجًّا قَطُّ
اِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَیْرَ فَجِّكَ

ترجمه: (متفق علیه)

روایت دی د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه څخه چې فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم نورهم څه وویل ای څوینه د خطاب قسم دی په هغه ذات ج چې نفس زما

څه وخت چې قریش لږې پیښې څخه خبر شول
د ابرهه د لاس جوړې شوې کلیسا سپکاوی پې وکړ
د قریشو د اعمل د ابرهه د قهر اوغصې سبب شوه .
کعبې شریفې د ورانولو په نیت دیولوی لښکر سره چې په
فیلانو سپاره وو د مکې معظمې په لور روخوځیدل .

د مکې معظمې اوسیدونکي د عبدالمطلب په مشوره
د ډې لپاره چې د تیریدو څخه ځان وژغوري د مکې معظمې
شاوخوا غرونو ته ولاړل .

کله چې د ابرهه لښکري مکې معظمې ته نږدې شوې الله
په امر د هوا ئې پیرکوچنۍ مرغان (ابابیل) راغلل اوهغه
وړې وړې ګیټکې (سنګریزه) پې چې په مښوکو اوپنجوکې
نیولې وې د ابرهه په لښکریانو راوغورځولې اوټول لښکر

په یَدُ د هغه کې دی یوځای شوې نه وې له تاسره شیطان چې روان وي په لاره هیڅیره مګر لاره به شي په لاره بې لاره ستانه

(متفق علیه)

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د ډیرو لوړو اخلاقو او صفاتو څښتن، متواضع او د عدالت خاوند و.

کله چې خلیفه شو نو مسلمانانو ته یې وفرمایل:

"زما دوست هغه څوک دی چې ما ته زما عیبونه سنکاره کړي".

قول کار وونه یې د قرآن کریم، نبوی سنت او له اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره د مشورې په اساس سره ترسول.

د خلافت په وخت کې یې دربار پیره داران نه درلودل او هر چا کولې شول چې په ډیره آسانۍ له ده سره وګوري.

هیڅکله یې په یوه وخت کې دوه ولې خواړه نه دي
خوړلي ، پیوندي جامې به یې اغوستلې .

ځینې وختونه به یې دځمکې پرمخ په خاورو او کله
به یې په پوزې باندې استراحت کاوه ، له بیت المال
څخه یې د ټولونه دځان د پاره له معاش مقرر کړې وو.

دعدالت او قضاوت په وخت کې یې دخپل اولاد
او بل چا تر منځ فرق نه دې کړې .

د شپې له خوا به ځپله مبارک ګرځید ه او د مسلمانانو
احوال به یې اخیسته په ټولو کار و نوکې د رسول الله ﷺ
سره په ډیره میړانه برخه اخیستې وه . د حضرت عمر رضي الله عنه کارنامې
اوصفات د مسلمانانو د پاره ډیره سنه تګ لاره ده . اسلامي امیران
باید هڅه وکړي تر څو د اسلام د پرمختګ د پاره داسې لوړ صفات ولري.

د حضرت عمرؓ شهادت

د لوی اختر د میاشتې د ذي الحجې، اوه ویشتمه نیټه وه چې حضرت عمرؓ د عادت سره سم د سهار د لمانځه د پاره مسجد ته تشریف یوړ. کله چې لمونځ د دې په امامت پیل شو ناڅاپه یو مجوسي غلام ابولؤلؤ نومیده په زهرجنې توري سره په دې مبارک باندې ګذارونه وکړل.

حضرت خلیفهؓ بې هوشه شو او پریووت او د ده پر ځای لمونځ د عبدالرحمن بن عوفؓ په امامت تمام شو. د لمانځه د تمامیدو څخه وروسته کله چې ابولؤلؤ ځان د مسلمانانو په منځ کې محاصره ولید په هماغه توره یې ځان هم وواژه.

مسلمانانو حضرت خلیفه ؓ کورته ورساوه څه وخت چې په
هوش راغې لومړی یې خپل لمونځ ادا کړ او بیا یې د
اصحابو کرامو په مشوره یوه شپږ کسیزه شوریٰ وټاکله
ترڅو د ده د شهادت څخه وروسته د دې شپږو تنو څخه
یو تن د خلیفه په توګه وټاکي . حضرت عمر ؓ د ټپونو څخه
څلور ورځو وروسته د محرم د میاشتې په لومړۍ نیټه
چې د ۲۴ هجري کال پیل وو د لسو کلونو او پنځو میاشتو
خلافت او امامت څخه وروسته د ۶۳ کلونو په عمر
د شهادت لوړ مقام ته ورسید او په نبوي مقدسه
روضه کې خاورو ته وسپارل شو. انا لله وانا الیه راجعون

۱، مجوسیت یا آتش پرستي په ایران کې رواج درلود او ابولؤلؤ اصلاً د ایران وو
چې د قادسیې په فتحه کې د مسلمانانو په وسیله نیول شوې وو .

تمرین

۱ ـ د دوهم خلیفه رضی پـه وخت کې د اسلام مقدس دین کومو هیوادونو ته ورسید ه ؟

۲ ـ د حضرت عمر فاروق رضی کارنامې بیان کړئ ؟

۳ ـ دوهم خلیفه رضی کوم صفات درلودل ؟

٤ ـ حضرت عمر رضی څوکاله خلافت وکړ او د چا لخوا شهید شو ؟

۵ ـ د حضرت عمر رضی مرقد په کوم ځای کې دی ؟

د ریم خلیفه حضرت عثمان رض

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَقُوْلُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَيٌّ اَفْضَلُ اُمَّتِ النَّبِيِّ ﷺ بَعْدَهٗ اَبُوْبَكْرٍ رض ثُمَّ عُمَرُ رض ثُمَّ عُثْمَانُ رض

ترجمه: (ابوداؤد)

د زوی د عمر رض نه روایت دی وو مونږ چې ویل به مو اورسول الله ﷺ ژوندي وو چې بهتر د امت د نبي ﷺ پس له ده څخه ابوبکر رض دی او بیا عمر رض او ورپسې عثمان رض زی. (ابوداؤد)

اصل نوم یې عثمان او د عفان زوی دی چې نسب یې په پنځم نیکه (عبدالمناف) کې حضرت محمد ﷺ سره یوځای کیږي.

د فیل کال د پیښې څخه شپږ کاله وروسته په

مکۀ معظمه کې زیږیدلي او د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه
په لارښوونه، په اسلام مشرف شوې دی .

د ډیرې سخا او حلم څښتن وو. د حضرت محمد ﷺ
د دوه لونو د پرله پسې نکاح کولو په سبب چې یو د بل
لمړ وفات نه وروسته یې صورت موندلې وو ورته
د « ذوالنورین » (د دوه نوروخاوند) لقب ورکړ
شوې دی .

حضرت عثمان رضی الله عنه د اسلام را وړلو څخه مخکې هم
د شراب څښلو او بت پرستۍ څخه په پوره توګه ځان
ژغورلې وو. څه وخت چې په اسلام مشرف شو
د مکې کفارو وویرزیانونه ورسول .

حضرت عثمان رضی الله عنه د یو څه وخت د پاره د حضرت محمد ﷺ

د وحی کاتب اوهم یې منشي وو. د هجرت څخه
وروسته یې پرته د بدر[1] څخه په نورو ټولو غزاګانو
کې ګډون کړیدی اوهم یې دخپلې شتمنۍ ریاته
برخه په جهاد او نیکو کارونو کې مصرف کړیده .

د حضرت عثمان رضی الله عنه خلافت

لکه څرنګه چې مخکې مو ولوستل، حضرت عمر رضی الله عنه
دخپل ژوند په وروستي وخت کې دخپلې جانشینۍ

۱. د بدر په غزا کې حضرت عثمان رضی الله عنه د خپلې ناروغې میرمنې (حضرت رقیه رضی الله عنها)
د خدمت لپاره چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لور وه د بدر غزا ته
د تلو څخه پاتې شو اما د بدر د غزا په ثواب او غنیمت کې سهیم شو.

لپاره د شپږو تنو نومونه یادکړل او داسې یې وویل چې
د نومورو شپږو تنو څخه باید یو خلیفه وټاکل شي.

د حضرت عمرؓ له شهادت څخه وروسته نومورې
شپږ تنه د یوې اسلامي شورۍ په نوم سره راټول
شول او لږ دری ورځو مشورې څخه وروسته یې په
داسې حال کې چې د هرځای مسلمانان د حج لپاره راټول
څخه وروسته مدینې منورې ته راغلي وو په نبوي
مسجد کې حضرت عثمانؓ ته بیعت وکړ او خلیفه یې وټاکه.

د دریم خلیفهؓ فتوحات

د حضرت عثمانؓ په وخت کې دوه دوله فتوحات

دوهم ډول :

هغه فتوحات دي چې په نورو ځايونوکې د اسلام دمقدس دين دخپريدو په مقصد سرته ورسيدل دلته کولې شو دافريقا فتحې ته اشاره وکړو :

دافريقا دفتحې دپاره دريم خليفه رضي الله عنه دمصر حکومت حضرت عبد الله بن سعد رضي الله عنه وسپارله البته ددې ځای په شاوخوا سيمو کې رومیانو حکومت کاوه .

رومیانو چې له پخوا څخه لمسلمانو نو سره دښمني درلوده يوځل بيا پې په افريقا کې د اسلام دمقدس دين دخپريدو په لارکې خنډونه پيدا کړل اود (۱۲۰۰۰) تنو په شاوخوا کې فوځ يې په مسلمانانو باندې دحملې دپاره برابره کړ .

يې د فيلانو سره وړته تباه او هلاک کړل لکه چې په قرآن کريم کې يې هم ذکر راغلی دی .

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ۝

ترجمه : "آيا نه وويلی تا - نه يې خبر چې څرنګه کار کړی وو ربّ ستا له خاوندانو د فيل سره . آيا نه وو ګرځولي (هغه) کيد مکر د دوی (په حق د نړولو د کعبې بلکه ګرځولي يې وو) په ګمراهۍ زيانمني بطلان کې . او را ولېږل په دوی باندې مرغان ټولګي ټولګي چې ويشتل يې هغوی په کانړو سره چې په اور يخ شوي خټو خټه جوړ شوي وو . نو وې ګرځاوه دغه لښکر په شان د وښو

د مسلمانانو په برخه شول :

لومړی ډول :

ځینې ځایونو لکه همدان ، ری ، اسکندریه او آذربایجان چې د دوهم خلیفه ؓ په وخت کې فتحه شوي وو د حضرت عمر ؓ د شهادت څخه وروسته په بغاوت لاس پورې کړ او د اسلامي خلافت څخه یې سرغړونه وکړه ، اما د ریم خلیفه ؓ خلافت ته له رسیدو سره سم نوموړو ځایونو ته فوځونه ولیږل او په لږ وخت کې یې ټول بغاوتونه آرام کړل ، باغیان یې په خپل جزا ورسول او په نوموړو ځایونو کې یې اسلامي قوانین تطبیق او هغه یې د اسلامي خلافت جزو ګرځول.

څه وخت چې د اسلام خلیفه د دښمن د ې
چمتو والي څخه خبر شو د عبدالله بن عباسؓ او عبدالله بن
عمرؓ ترقوماندې لاندې يې اسلامي ستر فوځ تنظيم کړ
او د افريقا په لوريې وليږه .

عبدالله بن سعدؓ د مصر والي هم د اسلامي
مجاهدينو د مرستې لپاره د افريقا په لور وخوځيد او
په ژړ ژبې ځان د جنګ ميدان ته ورساوه په دې وخت
کې خليفه يوبل فوځ هم د عبدالله بن زبيرؓ ترمشرۍ
لاندې د مجاهدينو د مرستې لپاره د افريقا[1] خواته وليږه
ددې غازيانو په ورتګ سره مجاهدينو تکبيرنارې پورته
کړې اوسمدستي يې په دښمن برید پيل کړ .

۱. دلته د افريقا دنوم اخيستلو څخه مراد د افريقا د لويې وچې شمالي برخې دي نه
د افريقا ټوله لويه وچه .

عبد الله بن زبیرؓ درومی لښکرمشرچې «جرجیر» نومیده
حمله وکړه او ډیر ژریې وواژه ، رومي لښکر
ماتې وخوړه او دخدایﷻ په مرستې فتحه دمسلمانانو
په برخه شوه چې دغه مشهوره فتحه دحرب العبادله[۲]
په نامه یادیږي او د همدې فتحې سره سم دافریقا
شمالي برخې په هغه اسلامي حکومت پورې چې
مرکزیې مدینه منوره وه ، وتړل شوی .

۲، دې فتحې ته ددې لپاره حرب العبادله وایي چې د اسلامي
لښکروځلورقوماندانو نومونه په کې یوشانتې وو« عبدالله
بن عمرؓ - عبدالله بن عباسؓ - عبدالله بن سعدؓ - عبدالله بن زبیرؓ »

0 1,000 2,000 3,000 كيلومتر

د قبرس فتحه

د قبرس جزیره د آسیا د لویې وچې په لویدیځ برخه کې پرته ده او شاوخوا یې د مدیترانې بحیرې نیولې ده .

د ریم خلیفه د لومړي ځل لپاره د اسلام د مقدس دین د خپرولو پاره د مسلمانانو یو منظم فوځ ترتیب کړ چې د حضرت معاویه په مشرۍ یې په کشتیو کې د قبرس په لور روانه کړ .

مسلمان مجاهدین د قبرس جزیرې ته چې د روميانو په لاس کې وه ، ورسیدل او د څو جګړو په ترڅ کې یې د جزیرې د مسلمانانو په لاس فتحه شوه او د روم د قیصر شاه اوشوکت د دې فتحې سره سم پای ته ورسید

او د عیسویت پرځای د اسلام مبارک دین هلته خپور شو. په دې پول د حضرت محمدؐ هغه پیشګویي چې «یوه ورځ به مسلمانان په کښتیوکې سپاره وي او د دښمن مقابله به کوي او وروسته فتحه به هم د مسلمانانو په نصب وي» ثابته او سبکاره شوه.

تمرین

۱ - حضرت عثمانؓ څنګه خلیفه شو؟
۲ - حضرت عثمانؓ ته ولې ذوالنورین وایي؟
۳ - چا د حضرت محمدؐ د کتابت او منشي توب وظیفه په غاړه درلوده؟
٤ - د دریم خلیفه په وخت کې څو ولې فتوحات د مسلمانانو په نصب شول؟
٥ - دافریقا د فتحې لپاره د دریم خلیفه څوک د مصر والي مقرر کړ؟
٦ - حرب العبادله د کوم جنګ نوم دی؟
۷ - حضرت محمدؐ د بحري جنګونو څنګه پیشګویي کړې وه؟
۸ - جزیره څوک وو او چا وواژه؟
۹ - قبرس چیرته پروت دی او څنګه فتحه شو؟


د مدیترانی بحیره
نیکوسیا
قبرس
شمال
د مدیترانی بحیره

ددريم خليفه رض اخلاق اوکارنامې

۱ - دقرآن شريف دصحيفو صحت اوترتيب ددوهم ځل لپاره دحضرت عثمان رض دخلافت سترهٔ کارنامه ده چې دهجرت په ديرشم کال يې دځينو اصحابو کرامو په مشوره اوغوښتنه دغه لوی کار سرته ورساوه اود قرآن شريف په تلاوت کې يې هغه اختلاف له منځه يووړ چې په مخکينيو نسخوکې منځ ته راغلې وو.

ددې کار لپاره زيد بن ثابت رض د درې تنو قريشو سره وګمارل شول ترڅو دهغې نسخې څخه چې دحضرت ابوبکر صديق رض په وخت کې ترتيب شوې وو شپږ نسخې ترتيب کړي.

زيد بن ثابت رض اوملګرو يې په ډيرغور اوکوښښ

سره شپږ نسخې قرآن شریف ترتیب کړې څلور نسخې یې مکې، کوفې، بصرې او دمشق ته واستولې، یوه نسخه یې د مدینې منوّرې مسجد لپاره اوبله نسخه یې د خلافت مقام ته وسپارله، اوسنی قرآن کریم هماغه عثماني ترتیب دی چې مونږ ته را رسیدلې دی.

۲ - د دریم خلیفه بله ستره کارنامه د بغاوتونو له منځه وړل او د اسلام د مبارک دین د لمنې پراخوالې دی.

۳ - حضرت عثمان رضي الله عنه د خپلې شتمنۍ زیاته برخه د جهاد او اسلامي خیریه کارونو د سرته رسولو په لاره کې مصرف کړې او د تبوک په غزا کې یې د مجاهدینو لپاره د جهاد د ټول ضروري شیان او خوراکي مواد برابر کړل.

۴ - حضرت عثمانؓ دلومړنیو دوو خلفاؤؓ ولاړ په سنه توګه تعقیب کړه اود اسلامي خلافت ټول کارونه یې د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د اصحابو کرامو په مشوره سرته رسول .

حضرت عثمانؓ یو حلیم ، حیاناکه ، متواضع اود سخا خاوند و و په مسلمانانو کې لومړی شخص و و چې دخپلې میرمنې بي بي رقیهؓ سره یې حبشې ته هجرت وکړ او بیا څه وخت چې حضرت محمدؐ مدینې منورې ته هجرت وکړ، دې هم هلته ولاړ .

حضرت عثمانؓ ډیر متقي او پرهیزګار وو دشپې زیاته برخه به یې د خدایؒ په عبادت کې تیروله .

د قرآن شریف تلاوت به یې ډیر کاوه اود زیات

خوړل شويو پايمال کړي شويو . »

په دې توګه الله جل جلاله ، کعبه شريفه او
د مکې معظمې اوسيدونکي دابرهې له شر څخه ـ
خلاص کړل چې دې سترې پېښې دکعبې شريفې
اهميت اودبني هاشمو عزت نور هم پسې زيات کړ.
په کوم کال کې چې دا پېښه منځ ته راغله ، عربو هغه
کال دعام الفيل ر دفيل کال ، په نامه يادکړ.

تمرين

۱ ـ د مدينې منورې سنار د مسلمانانو لپاره څه اهميت لري؟

۲ ـ چا دکعبې شريفې د ورانولو نيت درلود ؟

۳ ـ دفيل کال ته ولې دفيل کال وايي ؟

وخت لپاره به يې روژه نيوله ، دحيأ په هکله يې نبي کريمؐ
داسې وفرمايل :

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا
قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
لِعُثْمَانَ اَلَا اَسْتَحِي مِنْ رَجُلٍ
تَسْتَحِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ

ترجمه: «صحيح المسلم»

حضرت بي بي عايشهؓ فرمايلي دي چې رسول الله
دحضرت عثمانؓ په هکله وويل :

زه څه رنګه دداسې شخص څخه حيأ
ونکړم چې ملائکې ورڅخه حيأ کوي .

«صحيح مسلم»

د حضرت عثمان رضی شهادت

د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د خلافت په ورستیو کلونو کې ځینو خود غرضو خلکو د ده مبارک د پیرحلم او صله رحمی څخه ناوړه ګټه واخیسته ترهغه چې په اختلاف اچولو یې پیل وکړ .

منافقانو د عبدالله بن سبا په لارښوونه په کوفې ، بصرې او مصر کې خلک د حضرت عثمان رضی په مقابل کې ولمسول او د همدې لمسون په نتیجه کې د مصر او ځینو نورو ځایونو اوسیدونکي مدینې منورې ته راغلل او بغاوت یې پیل کړ .

باغیانو د حضرت عثمان رضی کور محاصره کړ ، اصحابو کرامو د خلیفه دکور په ساتنه کې د پیرکوښښ وکړ اما

باغیان په کور ورروختل او خلیفه یې په داسې حال
چې د قرآن شریف تلاوت یې کاوه په شهادت ورساوه.

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ۝

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دولس
کاله خلافت وکړاو د هجرت په ۳۵ کال یې د
خلافت مبارکه دوره پای ته ورسیده.

تمرین

۱ - حضرت عثمان رضی الله عنه څه وخت زیږیدلې دی ؟

۲ - حضرت عثمان رضی الله عنه چا په لاربنوونه په اسلام مشرف شو ؟

۳ - حضرت عثمان رضی الله عنه ته ولې ذوالنورین وایي ؟

٤ - چا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کتابت او منشي توب وظیفه په غاړه درلوده ؟

څلورم خليفه حضرت علي رض

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ عَلِيًّا مِنِّيْ وَاَنَا
مِنْهُ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ

ترجمه : « رواه الترمذی »

روايت دی دعمران زوی د حصين رض نه چې حضرت رسول الله ص فرمايلي دي علي رض چې دې له ما نه دې ، او زه له ده نه يم او دې دوست د هر يو مؤمن دی .

نوم يې علي ، لقب يې اسد الله او مظهر العجايب اوکنيه يې ابوالحسن او ابوتراب دی د فيل ډکال څخه ۲۱ کاله د مخه زيږيدلی دی . پلار يې ابوطالب نومېده چې د حضرت محمد ص تره وه په ورکتوب کې چې عمر يې

د لسو کلونو په شاوخوا کې وو په اسلام مشرف شو.

د حضرت علیؓ قد مبارک تیت اما د قوي بدن خاوند وو.

د هجرت څخه ۲۱ کاله مخکې په مکهٔ معظمه کې زیږیدلې دی. د حضرت محمدﷺ څخه وروسته دې هم ډیر ژر مدینې منورې ته هجرت وکړ.

بي بي فاطمة الزهرا رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا د نبي کریمﷺ لور د حضرت علی کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ میرمن وه ترڅو پورې چې ژوندۍ وه بله ښځه یې په نکاح نکړه.

د بي بي فاطمة الزهراؓ څخه یې دوه زامن چې امام حسنؓ او امام حسینؓ نومیدل او دوی لوڼې چې یوه زینب او بله اُمِّ کلثومؓ نومیده، درلودل.

شي اوباغيان دي په خپله جزأ ورسول شي . مگر
څلورم خليفه رضي الله عنه ويل چې څه وخت وضعه آرامه شي
اودباغيانو قوت کم شي بيا به دحضرت عثمان رضي الله عنه
قاتلينو ته جزا ورکړل شي دهمدې اختلافونو په لړ
کې دجمل اوصفين جنگونه مينځ ته راغلل چې د
اسلامي خلافت مرکز لدمدينې منورې څخه کوفې ته
نقل اوپه دوه برخو ووېشل شوچې ديوې برخې
مرکز کوفه اودبلې برخې مرکز دمشق شو.

بله مهمه پېښه چې دحضرت علي رضي الله عنه دخلافت
په وخت کې مينځ ته راغله ، خوارجو سره په نهروان
نومې ځای کې دمسلمانانو مقابله اودهغو فتحه وه.
څه وخت چې دکوفې اوبصرې خوارج سره

یوځای شول د نهروان په لوریې حرکت وکړه لاړه
کې یې ځینې کسان چې د دوی مخالفت یې کاوه
ووژل اوځانونه یې نهروان ته ورسول ، په نهروان
کې د حضرت علیؓ په مشرۍ د مسلمانانو لښکر سره
مخامخ شول د سخت جنګ څخه وروسته زیاتره
خوارج ووژل شول او د حضرت علیؓ طرفداران
لږ پوره فتحې څخه وروسته بیرته کوفې ته راوګرځیدل.

د نهروان جنګ د تولو اصحابو کرامو د خوښۍ
اورضا سره سم ووځکه چې زیاتره باغیان اومنافقان
په کې په جزا ورسیدل .

د حضرت علي رضي اخلاق او کارنامې

حضرت علي رضی الله تعالیٰ عنه د پېر علم، تقویٰ
او سنو اخلاقو څښتن وو. قانع او فیصله کوونکی خبرې
به یې کولې، په عدالت او انصاف سره یې حکم چلاوه.
د دنیا د خوشحالۍ سره یې محبت نه کاوه، پېر فکر به
به یې کاوه، د ټیټ قیمت لباس به یې اغوستل، ادنیٰ
خواړه به یې خوړل او د نورو ټولو مسلمانانو په شان
به یې ژوند تیراوه. د عالمانو به یې پېر عزت کاوه، بې
وزله او بیچاره خلک به یې ځانته رابلل او ټپل څنګ کې
به یې کښینول د شپې به د خدای ج د عبادت لپاره پاڅېدۀ
په لوړ او درد ناکه آواز سره به یې ژړل او ویل به یې
«ای دنیا بل چاته فریب ورکړه، ستا عمرلنډ او قدر او

منزلت تیت دی ، له ما څخه لرې شه . »

نور په یو روایت کې هم د حضرت علي رضي الله عنه د تقوی ، زهد او پاکې په هکله راغلي دي .

څه وخت چې حضرت محمد صلي الله عليه وسلم له مکې څخه مدینې منورې ته هجرت کاوه حضرت علي رضي الله عنه يې په خپله بستره کې پریښود تر څو د خلکو امانت ما لونه چې د آنحضرت صلي الله عليه وسلم سره وو هغوی ته وسپاري .

حضرت علي رضي الله عنه په دې ډیره زړورتیا سره خپله وظیفه سرته ورسوله او بیا يې مدینې منورې ته هجرت وکړ .

د بدر په غزا کې يې ډیر زیات مشرکین او کافران له منځه یووړل .

حضرت علي رضي الله عنه د احد په غزا کې خپله زړورتیا

دوهم فصل

د اسلام د مقدس دین ظهور

د اسلام مقدس دین د حضرت محمدؐ د بعثت سره سم پیل اوسنکاره شو .

حضرت محمدؐ د ربیع الاول د میاشتې په دولسمه نیټه د دوشنبې په شپه د سپیدې داغ څخه د مخـــه د

څرګنده کړه اوخه وخت چې د حضرت محمدؐ د شهادت
آواز واوریدل شو او وروسته ښکاره شوه چې هغه
مبارک ژوندی دی ، حضرت علیؓ دلومړیو کسانو
څخه ووچې ځان یې نبی کریمؐ ته ورساوه .

د خیبر په غزا کې هم حضرت علیؓ په ډیری زړورتیا
سره د خیبر تاریخي کلا فتحه کړه او بری یې په لاس راوړ.

پرته له تبوک له غزا څخه چې نبی کریمؐ هغه په مدینهٔ
منوره کې پریښې وو په نورو ټولو غزاګانو کې یې ګډون
کړې وو .

خه وخت چې حضرت محمدؐ څلورم خلیفه
د تبوک غزا په وخت په مدینهٔ منوره کې خلیفه پریښود
حضرت علیؓ عرض وکړ یا رسول اللهؐ ، زه مو په ښځو

هلکانو او نجونو باندې خلیفه کړم ؟

آنحضرت ﷺ ځواب کې ورته وفرمایل :

عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَاصٍ قَالَ قَالَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ
اَنْتَ مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هٰرُوْنَ مِنْ
مُوْسٰى اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ

ترجمه : „متفق علیه"

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل علي رضی الله تعالی عنه ته چې ته زما له خوا نه هغه مقام لرې لکه هارون علیه السلام چې د موسی علیه السلام له خوا درلوده اما خبره دا ده چې له ما څخه وروسته بل هیڅ پیغمبر نه راځي .

د حضرت علي رض شهادت

د نهروان لجنګ څخه ورروسته چې حضرت علي رض کوفې ته راوګرځيد دخوارجو لډلې څخه يو تن چې عبدالرحمن بن ملجم نومېده دهغه مبارک دشهادت لپاره تصميم ونيو.

حضرت علي رض دخپل عادت سره سم کله چې دسهارلمانځه داداء کولو لپاره دجومات په لور روان وو دعبدالرحمن لخوا چې په يوه پټ ځای کې ناست وو، حمله پرې وشوه اوهغه مبارک شهيد شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ۝

حضرت علي رض پنځه کاله خلافت وکړ او دده مبارک په شهادت سره د راشدينو خلفاوو

ځلاندہ عصر هم پای ته ورسید . ددې وخت څخه وروسته اسلامي خلافت په سلطنت بدل شو.

ددې مبارک دورې په هکله اختلاف دی ځینې کسان وایي چې بین الجبلین کې اوځینې وایي چې نجف اشرف کې ده اوځینې کسان وایي چې له نجف اشرف څخه بلخ ته منتقل شوې ده اما مشهور قول دا دی چې دده مبارک مقبره په بلخ کې ده .

۱. دري تنه خوارجو د حضرت علیؓ، حضرت معاویهؓ او حضرت عمرو بن عاصؓ د قتلولو د پاره نقشه جوړه کړه چې د هغې جملې څخه عبدالرحمن بن ملجم د حضرت علیؓ، برک بن عبدالله د حضرت معاویهؓ او عمر بن بکر د عمرو بن عاصؓ د وژلو تعهد وکړې د نومورو دري تنو څخه یواځې عبدالرحمن خپل ناوړه قصد سرته ورساوه اوپاتې دوه کسه ناکام شول.

۲

جغرافیه

تمرین

۱- حضرت علي رضي الله عنه په کومو نومونو یاد یده ؟

۲- د حضرت علي رضي الله عنه پلار څه نومیده ؟

۳- حضرت علي رضي الله عنه له هجرت څخه څوکاله مخکې زیږیدلی دي ؟

۴- حضرت علي رضي الله عنه څوکلن ووچې ایمان یې راوړ ؟

۵- د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د هجرت په وخت کې حضرت علي رضي الله عنه څه دپاره په مکه معظمه کې پاتې شو ؟

۶- څلورم خلیفه ته د کوم ځای اوسیدونکو بیعت ورنه کړ ؟

۷- حضرت علي رضي الله عنه څنګه خلیفه شو ؟

۸- په نهروان کې څه پیښ شول ؟

۹- د حضرت علي رضي الله عنه کارنامې کومې دي ؟

۱۰- حضرت علي رضي الله عنه څوکاله خلیفه وو ؟

۱۱- د خلفای راشدینو روښانه دوره څه وخت پای ته ورسیده ؟

۲

جغرافیه

لومړی فصل

د آسیا لویه وچه

د نړۍ په پنځو لویو وچو کې انسانان ژوند کوي. نومورې لویې وچې له آسیا ، امریکا ، افریقا ، اروپا او اوقیانوسیې څخه عبارت دي چې دلته یوازې آسیا په لنډه توګه معرفي کوو .

۱ ـ د آسیا موقعیت او څلور خواوې :

د آسیا د لویې وچې شمال ته شمالي منجمد بحر
ختیځ ته یې آرام بحر، جنوب ته یې د هند بحر او لویدیځ
ته یې د اروپا لویه وچه پرته ده .

د آسیا د لویې وچې درېو خواوته اوبو اویو یې
خوا ته وچه پرته ده . د اروپا لویه وچه د یوې
تاپو وزمې په ډول د آسیا په شمال لویدیځ کې
پرته ده نو ځکه ځینې وختونه اسیا او اروپا یوه
لویه وچه ګڼې او د یوریشیا په نامه یادیږي .

د آسیا لویه وچه له اروپا څخه د اورال غرونو
اوسیند، د کسپین بحیره، تورې بحیره، د باسفورس
او د دردانیل آبنا ګانې سره جلا کوي همدارنګه د آسیا
لویه وچه د سویز د کانال او سرې بحیرې په واسطه

د افریقا له لویې وچې څخه جلا شوید ه .

۲ - د آسیا د لویې وچې پراخوالې :

د آسیا د لویې وچې پراخوالې ۴۴ میلیونه کیلومتره مربع حساب شوی دی . دا لویه وچه د پراخوالې له مخې په دوله نړۍ کې دیره لویه وچه ده چې د امریکا لویه وچه د پراخوالې له مخې دوهمه درجه کې راځي . دافریقا لویه وچه او د اروپا لویه وچه دواړه په کډه سره د پراخوالې او مساحت له مخې د آسیا سره برابره ده .

او قیانوسیه ترټولو لویه وچه، کوچنۍ لویه وچه ده.

۳ - د آسیا د لویې وچې غرونه او سیندونه :

د آسیا د لویې وچې مهم غرونه په لاندې ډول دي:

د همالیې غرونه چې د هنـــد په شمال کې موقعیت لري، لوړه څوکه یې ایورست ده چې د بحر له سطحې څخه یې لوړوالی ۸۸۸۲، متره دی .

د قره قروم غرونه په کشمیر کې ، د هندوکش غرونه په افغانستان کې او د البرز غرونه په ایران کې موقعیت لري .

د آسیا د لویې وچې سیندونه په لاندې ډول دي :

د اوبی او دینسي سیندونه په سایبریا کې بهیږی او په شمالي منجمد بحر کې تویږی .

د یانګسي کیانګ سیند په چین کې بهیږي او په بحرالکاهل کې تویږي .

حضرت عیسیٰ علیه السلام د میلاد په (۵۷۱) کال د مکې معظمې په ښارکې د نړۍ ته تشریف راوړ، څرنګه چې د حضرت محمدﷺ د ژوند حالات او احوال مولنزیږیدنی څخه تر (۴۰) کلنۍ پورې په څلورم ټولګي کې څه ناڅه ولوستل، اوس دده مبارک سیرت او د ژوند احوال د (۴۰) کلنۍ څخه تر رحلت پورې لولو.

په حضرت محمدﷺ د وحي نزول

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت څخه دمخه هر کال د څو وخت لپاره د مکې ښار ته نژدې یوه غاره ته چې حرا نومیده د خدای ﷻ د عبادت لپاره تشریف وړ، د هغې عادت سره سم د خپل عمر په څلویښت کلنۍ کې چې د

د میکانک سیند په هند وچین کې بهیږی او
د جنوبی چین په بحیره کې تویږي . د هوانګهو سیند
په چین کې بهیږي او په بحرالکاهل کې تویږي .

اباسین په پاکستان کې بهیږي او د عمان په بحیره
کې تویږي .

د ګنګا سیند په هند کې بهیږي او د بنګال په
خلیج کې تویږي . د آمو سیند په افغانستان کې
بهیږي او د اورال په جهیل کې تویږي .

۴ ـ د آسیا د لویو وچې جهیلونه، بحیرې او خلیجونه:

الف) جهیلونه :

د بایکال جهیل د سایبریا په جنوب کې ، د
بالخاش جهیل په قزاقستان کې ، د اورال جهیل د

ازبکستان په شمال کې موقعیت لري .

ب ، بحیرې :

دکسپین بحیره د ایران په شمال کې ، بحرالمیت د اُردن په جنوب کې ، سره بحیره دهند په سمندرګې دعرب بحیره د هند په سمندرګې ، زیره بحیره ، دجاپان بحیره او دختیځ چین بحیره دری واړه په بحرالکاهل کې موقعیت لري .

په آسیا کې دفارس ، بنګال ، سیام او تونکن خلیجونه دي چې دفارس خلیج دایران په جنوب کې د بنګال خلیج د هند په ختیځ کې ، د سیام خلیج د تایلنډ په جنوب کې او د تونکن خلیج دچین په جنوب کې موقعیت لري .

همدا رنګه په آسیاکې هغه اوبه چې دوه اوبه سره نښلوي او دوه وچې سره جلاکوي چې د آبنا په نامه یادیږي ، په لاندې ډول دي :

الف) دباب المندب آبنا ، سره بحیره دعدن له بحیرې سره یوځای کوي .

ب) دهرمز آبنا، د فارس خلیج دعمان له بحیرې سره نښلوي .

۵ - د آسیا د لویې وچې تاپوګان ، تاپوزمې او مجموع الجزایر :

الف) تاپوګان :

قبرس د مدیترانې په بحیره کې ، سریلانکا د هند په جنوب کې د هند په سمندر کې ، جاوا او

سوماترا په اندونیزیا کې ، تایوان دچین په ختیځ کې ، په بحرالکاهل کې . شی کوکو، کیوشو، هانشو او هوکایدو په جاپان کې موقعیت لري .

ب ، تاپوزمې :

هندوچین ، د هند نیمه لویه وچه ، عربستان ترکیه ، کوریا او عمان د آسیا د لویې وچې تاپو وزمې دي .

ج ، مجموع الجزایر :

هغه مجموع الجزایر چې په آسیا کې موقعیت لري او یو هیواد یې جوړ کړي دی په لاندې ډول دي :

جاپان ، فلپین ، اندونیزیا او مالدیو.

د آسیا په لویه وچه کې ډیرې دښتې موجودې دي چې
د هغې د جملې څخه د ګوبي دښته د چین په شمال کې
د تارم دښته د چین په ختیځ کې او د ربع الخالی
دښته د عربستان په جنوب ختیځ کې موقعیت لري.

٦ - د آسیا د لویې وچې اقلیم :

د آسیا شمالي برخې چې په عمده ډول د سایبریا
ساحه تشکیلوي، سوړ اقلیم لري .

هغه برخې چې د سعودي عربستان څخه تر
منځنۍ آسیا پورې غزیدلي دي هیڅ ځنګل او
واښه نه لري ځکه چې هلته ډیر کم اوربنت صورت
نیسي او د دښتې اقلیم لري .

د آسیا د لویې وچې هغه سیمې چې د دې چې

په جنوبي اوجنوب ختيځو برخوکې موقعيت لري دهند
اندونيزيا ، جاپان ، دچين ختيځې برخې او هغه کوچنی
هيوادونه چې د آرام سمندر په غاړه پراته دي دهند
د موسمي اقليم تراغيزو لاندې دي نوځکه دې سيمی
ته د موتسوني اقليم ساحه ويل کيږي .

د آسيا د لويې وچې هغه برخې چې د مديترانې د
بحيرې په غاړه پرتې دي اويا هغه سيمې چې اوړې يې
تود او وچ وي او ژمي يې ملايم اوبارانې وي . د
نارنج ، ليمو او مالټې ونې پکې وده کولای شي . د
مديترانه يي اقليم سيمه ګڼل کيږي .

۷ - د آسيا د لويې وچې نفوس ، نژاد اومذهب:

الف، نفوس :

په ۱۹۹۶ میلادي کال کې په ټوله نړۍ کې پنځه
ملیارده او ۷۷۲ ملیونه تنه خلکو ژوند کاوه چې
دهغې له جملې څخه د آسیا په لوېه وچه کې دري ملیارده
او ۲۴۷ ملیونه تنه اوسیږي ، د دې وچې په ټولو
برخو کې نفوس په یو ډول نه دي ویشل شوي
د آسیا د لوېې وچې په ساحلي برخو او سیندونو په
شاوخوا او په هغه سیمه کې چې هلته ښه حاصلخیزه
ځمکه شته دي نو هلته د نفوسو ګڼوالي زیات دی .
خو په غرنیو سیمو ، د ښتو او ځنګلي سیمو کې د نفوسو
ګڼوالي ډېر کم دی .

د نفوسو له مخې د نړۍ دوه هغه هیوادونه چې
په ټوله نړۍ کې زیات نفوس لري په آسیا کې پراته

دی . نومورې دوه هیوادونه لرچین اوهندځمه عبارت دي . په منځنۍ پوله ددی لویې وچې په یوه کیلومتر مربع مساحت کې ۷۵، تنه ژوندکوي

ب) نژاد :

په ټوله نړۍ کې درې بنسټیزه نژادونه شته دي چې دسپین ، تورا و زیرنژادځمه عبارت دي . دهغې لړجلې ځمه په آسیاکې دسپین ، زیرا و تورنژاد شته.

سپین نژاد چې آریایان پې یوه څانګه ده ، په افغانستان ، ایران ، هند اوفدراتیف روسیه کې ژوندکوي .

زیرنژاد چې مغلستان (مغولیا) پې اصلي سیمه ده اوبیا له دی سیمې ځمه پې د تاریخ په

اوږ دوکې نورو سیمو ته کډه کړیده ، اوس په
چین ، جاپان ، کوریا ، اویو شمیریې په جنوب ختیځو
هیوادونوکې میشته شوي دي .

د زیږنژاد خلک د آسیا له لویې وچې څخه د میلاد
څخه دوه زره کاله مخکې د بیرنګ له آبنا څخه تیر شول
او په شمالي ، مرکزي اوجنوبي امریکاکې میشته شول
چې اوس نومورې خلک د امریکا د بومیانو اویا
د امریکا د لویې وچې اصلی اوسیدونکو په نامه
یادیږي . دوی ته امریکایي هندیان یا سور پوستکي
هم وایي ځکه چې دوی د مذهبي عقیدې له
مخې په خپلو مخونو سور رنګ وهي .

سربیره په نومورو نژادونو د آسیا په

جنوب لويديځ کې د سامي نژاد پوري ترلي خلک په عراق، سوريه، يمن، اردون او عربستان کې ژوند کوي. د سامي نژاد خلک د سويزد کانال څخه په تيريدو سره د افريقا د لويې وچې په شمالي برخو کې ميشته شول. سره له دې چې د سامي نژاد پوري ترلي خلک په آسيا او شمالي افريقا کې هستوګن دي خو يو ډول کلتوريې غوره کړې دی.

ج ، ژبه يې :

د آسيا په لويه وچه کې خلک په ډيرو ژبو خبرې کوي چې د هغې له جملې څخه د زيړپوتکو ژبې چينايې، جاپاني، کوريايي او تبتي دي. د

روژې مبارکه میاشت وه په نومورې غارکې په عبادت بوخت وو ناڅاپه يې يو آواز واوريد او حضرت جبرئيل عليه السلام د خدای ﷻ مقرب ملک يې پخپل اصلی شکل وليدچې آنحضرت ﷺ ته يې داسې ويل :

اقرأ (ولوله)

حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې زه لوست کولای نشم . حضرت جبرئيل عليه السلام دری ځلی آنحضرت ﷺ په غيږ کی ونيوکله چې په دريم ځل يې هغه مبارک خوشی کړ داسی يې ورته وويل :

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۚ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۚ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ ۚ

سپين پوتکو ژبې اردو ، ارمني ، پښتو ، ترکي
دري ، فارسي او هندي دي .

د) مذهب :

د آسيا لويه وچه د لرغوني تمدنونو زانګوده
اوهمدا رنګه د نړۍ د مختلفو اديانو د پيدايښت
اومنځته راتلوځای دی . د اسلام مقدس
دين په سعودي عربستان ، عيسويت او يهوديت
په اوسني فلسطين ، بودايي او هندويزم په
هند کې اوکنفوسيوس په چين کې منځته راغلی
دی اوبيا وروسته نورو برخوته اوهمدارنګه
نورو لويو وچو ته خپاره شويدي نن ورځ نومورې
دينونه په نړۍ کې پيروان لري .

۸ ـ د آسیا دلویې وچې هیوادونه :

د آسیا په براعظم کې دغه لاندې هیوادونه شامل دي :

شمیره	د هیواد نوم	مرکز	مساحت په کیلومتر مربع	نفوس
۱ ـ	افغانستان	کابل	۶۵۰,۰۰۰	۲۲,۶۶۴,۰۰۰
۲ ـ	ایران	تهران	۱,۶۴۸,۰۰۰	۶۶,۰۰۰,۰۰۰
۳ ـ	عربستان سعودي	ریاض	۲,۱۴۹,۱۰۹	۱۹,۴۰۰,۰۰۰
٤ ـ	یمن	صنعا	۵۲۵,۷۰۰	۱۳,۴۸۳,۰۰۰
۵ ـ	لبنان	بیروت	۱۰,۴۰۰	۳,۷۷۶,۰۰۰
۶ ـ	اسراییل	تل ابیب	۲۰,۱۶۰	۵,۴۲۲,۰۰۰
۷ ـ	فلسطین	بیت المقدس	۶,۱۷۰	۲,۳۵۰,۰۰۰
۸ ـ	سوریه	دمشق	۱۸۳,۰۰۰	۱۵,۶۰۹,۰۰۰

٩- عراق	بغداد	٤٣٠,٣١٧	٢١,٤٢٢,٠٠٠
١٠- عمان	مسقط	٣٠٢,٤٥٧	٢,١٨٢,٠٠٠
١١- امارات متحده عربي	ابوظبي	٨٢,٦٣٠	٣,٠٥٧,٠٠٠
١٢- بحرين	منامه	٦٨٦	٥٩٠,٠٠٠
١٣- قطر	الدوحه	١١,٢٩٥	٥٤٨,٠٠٠
١٤- اُردَن	عمان	٨٧,٩١٥	٤,٢١٢,٠٠٠
١٥- كويت	كويت	١٧,٨١٨	١,٩٥٠,٠٠٠
١٦- قبرس	نيكوسيا	٩,١٤٠	٧٤٥,٠٠٠
١٧- تركيه	انقره	٧٧٠,٤٥٢	٦٢,٤٦٤,٠٠٠
١٨- هند	دهلي جديد	٣,١٢٩,٠٠٠	٩٥٢,٠٠٠,٠٠٠
١٩- بنگله ديش	داكه	١٤٦,٦٧٥	١٢٣,٠٠٠,٠٠٠
٢٠- سريلانكا	كولمبو	٦٥,٦١٠	١٨,٥٥٣,٠٠٠

۲۱- مالدیو (جزیره)	مالہ	۰۲۹۴	۲۷۱,۰۰۰
۲۲- پاکستان	اسلام آباد	۸۶۹,۶۲۴	۱۲۹,۲۷۶,۰۰۰
۲۳- نیپال	کتمندو	۱۴۵,۸۰۰	۲۲,۰۹۴,۰۰۰
۲۴- بوتان	تیمفو	۴۷,۰۰۰	۱,۸۲۳,۰۰۰
۲۵- چین	پیجنگ	۹,۵۶۲,۰۰۰	۱,۲۱۰,۰۰۰,۰۰۰
۲۶- جاپان	توکیو	۳۷۳,۳۱۳	۱۲۵,۵۰۰,۰۰۰
۲۷- کوریا (شمالی)	پیونگیانگ	۱۲۱,۳۴۰	۲۳,۵۰۰,۰۰۰
۲۸- جنوبی کوریا	سیول	۹۸,۴۸۴	۴۵,۵۰۰,۰۰۰
۲۹- منگولیا	اولانباتور	۱,۵۴۸,۵۰۰	۲,۵۰۰,۰۰۰
۳۰- میانمار (برما)	رنگون	۶۶۸,۷۰۰	۴۵,۹۷۶,۰۰۰
۳۱- برونی	باندار	۵,۷۶۵	۳۰۰,۰۰۰
۳۲- ویتنام	هانوی	۳۲۵,۷۴۹	۷۴,۰۰۰,۰۰۰

٣٣- اندونيزيا	جاكارتا	١٩٠٤٥٦٩	٢٠٦٦١٢,٠٠٠
٣٤- ماليزى	كوالالمپور	٣٢٩٧٤٩	٢٠,٠٠٠,٠٠٠
٣٥- كمبوديا	پنومپن	١٧٩٨٠٠	١٠,٨٦١,٠٠٠
٣٦- لاوس	ونتيان	٢٣٤٠٥٨	٤,٩٧٦,٠٠٠
٣٧ تايلند	بنكاك	٥٠٧,١٧٤	٥٨,٨٥١,٠٠٠
٣٨ فلپين	مانيلا	٢٩٦,٠٠٠	٧٤,٤٨١,٠٠٠
٣٩- سنگاپور	سنگاپور	٦٣٢	٣,٣٩٧,٠٠٠
٤٠- تايوان	تايپي	٣٥,٩٨١	٢١,٥٠٠,٠٠٠
٤١- روسيه	ماسكو	١٦,٨٧٧,٥٦٨	١٤٨,١٧٨,٠٠٠
٤٢- تاجكستان	دوشنبه	١٤٢,٠٠٠	٦,٠٠٠,٠٠٠
٤٣- ازبكستان	تاشكند	٤٤٢,١١٢	٢٣,٥٠٠,٠٠٠
٤٤- تركمنستان	عشق آباد	٤٨٢,٥٦٠	٤,١٤٩,٠٠٠


منجمد شمالی بحر
فدراتیف روسیه
اروپ
منگولیا
چین
جاپان
بحرالکاهل
ایران
عربستان
دعرب بحیره
افریقا
دشمال خلیج
تایلند
فلپین
بحرهند
اندونیزیا
داسیاسی نقشه
کیلومتر

٤٥ ـ قرغزستان	فرونزه	١٩٦,٠٩٦	٤,٥٥٠٠٠٠
٤٦ ـ قزاقستان	الماتا	٢٦٨٥,٩٥٢	١٧,٠٠٠٠٠٠
٤٧ ـ ارمنستان	ايروان	٣٠,٠٠٠	٣,٤٦٤,٠٠٠
٤٨ ـ گرجستان	تبليسي	٦٨,٦٨٧	٥,٢٢٠,٠٠٠
٤٩ ـ آذربايجان	باكو	٨٥,٥٠٤	٧,٧٠٠,٠٠٠

تمرين

١ ـ د آسيا لويه وچه له نورو لويو وچو څخه لويه ده کوچني ؟

٢ ـ د آسيا براعظم د هيوادونو شمير څومره دی ؟

٣ ـ د آسيا د براعظم څلور خواوې کومې دي ؟

٤ ـ آسيا او اروپا دواړه په کوم نوم يادېږي ؟

دوهم فصل

د آسیا دلویې وچې هیوادونه

افغانستان

موقعیت : افغانستان د آسیا دلویې وچې په مرکز کې لرې خو جنوب ختیز خواته پروت دي .

افغانستان بحرته لار نه لري اوپه وچه کې پروت دی .

څلور خواوي : شمال ته يې د تاجکستان، ازبکستا
او ترکمنستان اسلامي جمهوريتونه واقع دي .
ختيځ اوجنوب ته يې پاکستان ، لويديځ ته يې ايران
او شمال ختيځ ته د چين په اولسي جمهوريت پورې
نښتی دی .

مساحت يې ۶۵۰۰۰۰ کيلومتر مربع اونفوس
يې ۲۲٫۵ ملیونو ټنو څخه زيات دی .

جغرافيايي جوړښت :

افغانستان يوغرنی هيواد دی چې هماغږونه
يې د ښې آب وهوا اوښکلا سبب شوی دی لږوی
خوا يې دوه نو، بوټو او ميوو څخه ګټه اخيستل کيږي او
له بلی خوا د تاريخ په اوږدو کې زمونږ مسلمان ولس

دهمدغو غرونو لدلړيو څخه په استفادې سره تيري کوونکي
د بنمن ته ماتې ورکړې ده . دهمدغو غرونو څخه سيندونه
سرچينه اخلي چې د هيواد د مځکو په خړوبولو کې لوی
برخه لري .

د افغانستان نامتو غرونه هندوکش، د باباغر
فيروزکوه ، تيربند ترکستان، سياه کوه ، سپين غر
ختيځ تورغر، د سليمان غر او داسې نور دي .

سيندونه : افغانستان ډير سيندونه لري چې
د هيواد په آبادۍ او سمسورتيا کې ډيره اهميت لري لکه:

۱ - د کابل سيند : داسيند د پغمان د اونۍ له
غاښې څخه راوځي د کابل د ښار له منځه تيريږي د ختيځ
په لوری بهيږي او وروسته له هغه چې د لوګر، پنجشير

ترجمه : ولولہ (ای محمدؐ ! قرآن) په برکت د نامه د ربّ خپل ، هغه ربّ پالونکی چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات) ، پیدا کړي یې دی انسان له ټوټو وینو څخه . ولولہ (ای محمدؐ ! قرآن ، حال داچې ربّ ستالوی کریم دی (پرټولو کریمانو) هغه (رب پالونکی) چې سنوولې یې دی (خط انسان ته) په قلم سره .

سنوونه یې کړیده انسان ته د هغو شیانو چې دې پرې نه پوهیده (پخواله سنوولو).

په دې توګه د وحی نزول پیل شو او د رسالت او نبوت مقدسه اوډنه دنده حضرت محمدؐ ته وسپارل شوه .

الیشنګ ، الینګار اوکونړ سیندونه ورسره یوځای شي
اټک ته نژدی د سند له سیند سره یوځای کیږي .
د هلمند سیند : دا سیند د افغانستان لدلویو
سیندونو څخه دی ، دا سیند د بابا لړۍ څخه سرچینه
اخلي اود هیواد جنوب لویدیځ خواته بهیږي دکندهار
او ارزګان په ولایتونو کې ورسره نور سیندونه لکه ترنګ
ارغستان او ارغنداب یوځای کیږي او بیا د هلمند په
هامون کې تویږي .
فراه رود (د فراه سیند) : دا سیند د سیاه کوه
له جنوبي خواه څخه سرچینه اخلي اود هیواد جنوب
خواته بهیږي او بیا د هلمند په هامون کې تویږي .
خاشرود سیند : دا سیند د لویدیځ تورغر څخه

سرچینه اخلي د دلارام اوچغانسور څخه تیریږي او د هلمند په هامون کي توییږي .

هریرود سیند : د هریرود سیند هم په هیوا د کي دا وبونه له ډکوسیند ونو څخه دی چې د بابا ډغره څخه سرچینه اخلي د هرات څخه تیریږي شمال خواته ځي او بیا د ترکمنستان په شګو کي جذبیږي .

آمو سیند : دا سیند د پامیر د لوړو څوکو څخه سرچینه اخلي د لویدیځ خواته جریان لري او د افغانستان او مرکزي آسیا د مسلمانو جمهوریتونو ترمنځ طبیعي سرحدي پوله جوړوي . د آمو مرستیالان د کوکچې او کندز سیندونه دي . د آمو سیند د یورال په جهیل کي توییږي .


شمال
ازبکستان
ترکمنستان
تاجیکستان
چین
دریای آمو
دریای کوکچه
دریای کوکچه
دریای کوکچه
دریای آمو
چ آب
تیغ بند ترکستان
کوه بابا
کابل
سیند کوه
هریرود
دریای مرغاب
ایران
سیاه کوه
فراه رود
خاش رود
دریای ارغنداب
دریای هلمند
ریگستان
نقشه طبیعی
افغانستان

کرهنه

افغانستان یوکرهنیز هیواد دی چې حاصلخیزې ځمکې اوپراخه ورشوکانې لري .

دافغانستان زیاته برخه وګړې بزګران دي د افغانستان ځمکې په لمي اوآبی دول کرل کیږي، مهم پیداواریې غنم ، جوار، وریجې ، اوربشې ، پنبه ، زغر کچالو اونوردي . میوی یې انګور، هندوانې ، ناک انار، پسته ، بادام ، منی ، توت ، زردالو، شفتالو خربوزې اونورې دي .

کانونه : افغانستان دکانونو په لحاظ خوراغنې هیواد دی چې دځینوکانې ذخیروڅخه یې ګټه اخیستل شوې ده اوځینې یې دزیرمې په دول پاتې دي .

معدنونه زیرمې ایې اوسپنه ، د ډبروسکاره ، مالګه
مس ، لاجورد ، طلا ، نقره ، نفت اوطبیعی ګازدی .
صنایع : د هیواد په مختلفو سیمو کې له پیړیو څخه زیاتې
راهیسې خلک په لاسي صنایعو بوخت وو . د لاسي
صنایعو له جملې څخه د غالیو اوبدلو ، د ټغر اوبدلو ، تیاری
زرګری ، کلالی او داسې نورو نو موړو اخیستلای شو .
د لاسي صنایعو تر څنګ په افغانستان کې په دې
وروستیو وختونو کې ماشینی صنایع رواج وموندچې
په دې هکله د ګلبهار ، پلخمری ، بګرامیو نساجیو فابریکې
د غوري اوجبل السراج د سمنټو فابریکې ، د سروبی
نغلو ، د رونته ، ماهیپر ، پلخمري د بریښنا فابریکې او د
نوي بغلان او جلال آباد د قند فابریکې یادولای شو .

مواصلات : د مواصلاتو کرښې په هر هیواد کې دوې
درګونو حیثیت لري . ترهغه وخته پورې چې زمونږ په
مملکت کې بنسټیزې لارې نه وې جوړې شوې نو په
افغانستان کې لږ څارویو څخه د مالونو د وړلو اوراړلو
لپاره ګټه اخیستل کیده. نن ورځ په ټول هیواد کې
لویې لارې جوړې شویدي چې د هغې په واسطه د
هیواد مختلفې سیمې یوله بل سره اړیکې او ارتباط
پیدا کوي . همدارنګه زمونږ په هیواد کې هوایي
کرښې هم جوړې شوې چې داخلي او بهرنۍ الوتنې
ترسره کیږي .

صادرات او واردات : افغانستان هرکال یوه زیاته
اندازه وچې اوتازه میوې ، مالوچ ، طبیعي ګاز ، وړې

قیمتي ډبرې ، غالۍ ، تغرې او نورشیان بیلابیلو
بهرنیو هیوادونوته صادروي .

افغانستان دخپل ضرورت ورشیان لکه
واړه اولوی ماشینونه ، درمل . دماشینونوپرزې
دکرهنې ماشین آلات او نورلوازم له بهرڅخه هیواد
ته واردوي .

ژبه اومذهب : په افغانستان کې زیاتی ژبې
رواج لري چې مهمې یې پښتو ، دري ، بلوچي
نورستاني ، ازبکي ، پشه یي اوترکمني دي .

پښتواودری د هیواد رسمي ژبې دي او
د هیواد زیات وګړي پرې خبرې کوي .

دافغانستان دخلکودین اسلام اومذهب یې حنفی

دي .

دافغانستان يوشميراوسيدونکی د شيعه مذهب پيروان دي . په افغانستان کې لږ شميرهندوان هم ژوندکوي .

ملکي ويش : افغانستان په ۲۹، ولايتونو پرلاندی پول ويشل شوی دی .

د ولايت نوم	د مرکز نوم
۱ - کابل	کابل
۲ - پروان	چاريکار
۳ - بغلان	بغلان
٤ - کندز	کندز
۵ - تخار	تالقان


فیض آباد
بدخشان
شبرغان
مزارشریف
بلخ
جوزجان
سرپل
قندوز
تالقان
تخار
ایبک
سمنگان
بغلان
پلخمری
پروان
کاپیسا
پغمان
کابل
لوگر
وردک
بامیان
غزنی
غور
هرات
فراه
نیمروز
هلمند
قندهار
زابل
پکتیکا
تقسیمات اداری
افغانستان

٦ - سمنگان	ایبک
٧ - بلخ	مزارشریف
٨ - جوزجان	شبرغان
٩ - بدخشان	فیض آباد
١٠ - ننگرهار	جلال آباد
١١ - کنړونه	اسعدآباد
١٢ - لغمان	مهترلام
١٣ - لوګر	پل علم
١٤ - پکتیا	ګردیز
١٥ - غزني	غزني
١٦ - زابل	قلات
١٧ - بامیان	بامیان

تمرین

۱ - آنحضرت ﷺ په کوم ښه ریږیدلی دی ؟

۲ - آنحضرت ﷺ باندې لومړی په کوم ځای کې وحی نازله شوه ؟

۳ - لومړنی نازل شوی آیتونه کوم دي ؟

پته بلنه

څه وخت چې حضرت ﷺ دوحی د پیل سره سم په پیغمبری مبعوث شو، لومړی یې په پته توګه خپل نژدې دوستان اوخپلوان اسلام ته راوبلل هغه چاته چې د آنحضرت ﷺ صداقت ، لوړ اخلاق اوریښتنی

۱۸ - وردگ	میدان سنار
۱۹ - کندهار	کندهار
۲۰ - فراه	فراه
۲۱ - هلمند	لشکرگاه
۲۲ - ارزگان	تیرین کوت
۲۳ - بادغیس	قلعهٔ نو
۲٤ - غور	چغچران
۲۵ - فاریاب	میمنه
۲٦ - هرات	هرات
۲۷ - نیمروز	زرنج
۲۸ - پکتیکا	سبزنه
۲۹ - کاپیسا	محمود راقي

پوښتنې

۱ ـ افغانستان په کومه لویه وچه کې پروت دی ؟

۲ ـ افغانستان بحرته نږدې دي اوکه ورځمه لیرې پروت دی ؟

۳ ـ د افغانستان ځلور خواوې بیان کړئ ؟

٤ ـ د افغانستان شمال ختیځ ته کوم هیواد واقع دی ؟

۵ ـ د افغانستان مساحت اونفوس وویاست؟

٦ ـ د افغانستان پایتخت کوم ښار او نور مهم ښارونه یې کوم دي ؟

ایـــران

د ایران هیواد په جنوب لویدیځه آسیا کې واقع دی چې ختیځ ته یې افغانستان او پاکستان لویدیځ ته یې عراق او ترکیه، شمال ته یې ترکمنستان د کسپین بحیره، ارمنستان او جنوب ته یې د فارس او عمان خلیجونه واقع دي.

مساحت یې ۱۶۴۸۱۹۵ کیلومتره مربع او نفوس یې په کال ۱۳۷۵ کې ۶۶ ملیونو تنوتـــه رسیدلی وو.

د حکومت طرز یې اسلامی جمهوریت او نژاد یې سپین دي ۵۰٪ وګړي یې په ښارونو کې اوسیږی.

د ایران نقشه


ارمنستان
ترکمنستان
ترکیه
تبریز
زنجان
قزوین
تهران
شاهرود
مشهد
گناباد
بیرجند
افغانستان
ایران
عراق
خرمشهر
اصفهان
یزد
کرمان
زاهدان
بندرعباس
چابهار
پاکستان
خلیج فارس
عمان خلیج

رسمي ژبه يې فارسي ده اودين يې اسلام دی، مذهب يې شيعه اوسنی دی نوری ژبې لکه ترکي، کردی، لری، بلوچي او عربي هم پکې رواج لري.

پايتخت يې د تهران ښار دی اونور مهم ښارونه يې مشهد، اصفهان، قم تبريز، شيراز، اهواز، آبادان، رشت کرمانشاه، همدان او بوشهر دي.

د پيسو واحد يې ايراني ريال دی.

ايران په ۱۳۵۷، هجري شمسی کال کې د شاهي رژيم څخه په اسلامی جمهوريت بدل شو.

پاکستان

د پاکستان اسلامی جمهوریت د آسیا په جنوب کې واقع دی ، شمال اوشمال لویدیځ ته یې افغانستان ، ختیځ اوجنوب ختیځ خواته یې هند ، لویدیځ خواته یې افغانستان اوایران شمال اوشمال ختیځ ته یې هند اوجنوب ته یې د عرب بحیره واقع دي .

مساحت یې ۸۶۹۶۲٤ کیلومتره مربع او د وګړو شمیر یې په کال ۱۳۷۵کې ۱۲۹,۲۷۶,۰۰۰ ملیونه تنه وو . د حکومت طرز یې جمهوري دی . پاکستان دځلورو صوبو یعنی صوبه سرحد ، سند ، پنجاب او بلوچستان څخه جوړ شویدی . پایتخت یې د اسلام آباد ښار او ۹۷٪ خلک یې مسلمانان دي . رسمی ژبې یې

اردو او انګریزي دی پښتو، بلوچي او نورې ژبې هم
پکې رواج لري. مهم ښارونه يې کراچۍ، لاهور، ملتان
کوټه، پيښور، راولپنډی او نور دي. د پيسو واحد يې
پاکستانی روپۍ ده. پاکستان په کرهنه، صنعت او
تجارت کې د بهرنۍ پانګې اچونې په هرسته پرمختګ کړی دی.



مالديف

د مالديف هيواد د ګڼ شمير تاپوګانو د مجموعې څخه
چې شمير يې ۱۱۰۶ جزيرو تاپوګانو، ته رسيږي تشکيل
شوېدی . د دې تاپوګانو څخه يوازې ۲۰۲ تاپوګان د
هستوګنې وړ دي .

مالديف د هند په بحر کې د هند په جنوب
لوېديځ اود سيلون په لوېديځ کې واقع دی .

مساحت يې ۲۹۴ کيلومتره مربع اونفوس يې په
۱۳۷۵ کال کې ۲۷۱ زرو شپږ سوه رسيدلې وو.

د حکومت طرز يې جمهوري او نژادي يې سپين او
نور دي .

خلک يې مسلمانان دي . رسمي ژبه يې « ديوه »
نومېږي چې د سنهالي ژبې يوه څانګه ده .

پايتخت يې د مالې ښار دی .

د آزادي کال يې ۱۹۶۵ ميلادي دی اوپولي
واحدې د مالديف روپۍ ده .



ورته د پخوا څخه معلومه وه چې سمدستي د اسلام په
مقدس دین مشرف شول . لکه په نارینه وکي حضرت
ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه او حضرت زید بن
حارث رض په ښځوکي حضرت بی بی خدیجه رض او په کوچنیانو
کي حضرت علي کرم الله وجهه .

په لومړي وخت کي به آنحضرت ص دا رقم په کور
کي د مسلمانانو سره لیدل او خلک به یې د اسلام
مقدس دین ته رابلل . دغه دول بلنې د کاله دوام
وموند .

دهمدې بلنو په لړکې یوه ورځ آنحضرت ص
د مسلمانانو سره یوځای د کعبې شریفې حرم ته تشریف
یووړ او هلته یې د مشرکینو په مخ کې د اسلام غږ پورته کړ.

هند

هند د آسیا په جنوب کې واقع دی، شمال ته
یې چین، بهوتان اونیپال، د شمال ختیځ لرخوا په مایانمار
ختیځ لرخوا په بنګله دیش او د بنګال په خلیج، د جنوب لرخوا د هند په
بحر او د لویدیځ لرخوا د عرب په بحیره او د شمال لویدیځ لرخوا پاکستان سره ټولیږي.

مساحت یې (۳۱۲۸۹۴۲) کیلومتره مربع اونفوس
یې په (۱۳۷۵) کال کې (۹۵۲) ملیونه ټوټه رسیده.

د حکومت طرز یې جمهوري او (۲۶٪) خلک یې په
سنا رونو کې اوسیږي. نژادي یې سپین، زیړ او توردی.
د نفوسو له لحاظه په ترتیب سره هندوان، مسلمانان او
مسیحیان په کې اوسیږي. پایتخت یې د نوی دهلي

سنبار او مشهور سنبارونه يې بمبيي ، کلکته ، مدراس
اوحيدرآباد دی . رسمي ژبه يې هندي او انګريزي ده.
مذهب يې هندويزم او د پيسو واحد يې هندي روپۍ ده.



تمرین

۱ - د ایران د ځلورخواوی هیوادونه کوم دي ؟

۲ - ایرانیان په کومو ژبو باندې خبرې کوي ؟

۳ - د روسیې ځلورخواوی وایاست ؟

٤ - روسیه د څو جمهوریتونو څخه جوړشوی ده ؟

٥ - د پاکستان ځلورخواوې وایاست ؟

٦ - د پاکستان د صوبو او د هغو د مرکزونو نومونه واخلی ؟

۷ - د هند ځلورخواوې وایاست ؟

۸ - د هند مساحت او نفوس یې بیان کړی ؟

۹ - د هند د مشهورو سیمارونو نومونه واخلی ؟

چین

چین په نړۍ کې د نفوسونه ډک هیواد دی چې د آسیا په ختیځ کې واقع دی . شمال ته یې مغلستان او شوروي ، جنوب ته یې لاوس ، میانمار او هند ، ختیځ ته یې بحرالکاهل او لویدیځ ته یې شوروي او د هند او افغانستان یوه برخه واقع ده .

مساحت یې ۹۵۶۰۷۷۹ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې (۱،۲۱۰) ملیارده تنه وو ۲۷٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي نژادي یې زیږدی مذهب یې کنفوسیوس ، بودایي ، تاویزم او ۵٪ یې مسلمانان دي . رسمی ژبه یې چینایي او پایتخت

پي د بيجنګ سنا ردی . نور مهم سنارونه يې
شانګهای ، تيانجين ، کانتون اونور دي .

دپيسو واحد يې چينايي ين دی او دحکومت
طرز يې کمونيستی جمهوری دی .



فلپین

د آسیا په جنوب ختیځ برخه کې د جزیرې چین ختیځ خواته یو شمیر ټاپوګان پراته دي چې شمیر یې ۷۱۰۷ ته رسیږي د فلپین په نوم یادیږي. لوی ټاپوګان یې لوزان او مینداناو دي.

مساحت یې ۲۹۶۰۰۰ کیلومتر مربع دی او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۷۴ ملیونه تنه وو.

د حکومت طرز یې جمهوري دی، ۴۱٪ خلک یې په سناروونو کې اوسیږي. نژادي زیاتره زیړ اولږ څه تور پوستکی هم لري، خلک یې مسیحیان او مسلمانان دي. رسمي ژبې یې تاګالوګ او انګریزي

دي . پایتخت يې د مانیلا ښار دی . او نور مشهور ښارونه يې کویزان او ناګا دي . د پیسو واحد يې پیسو دي .



جاپان

د آسیا په ختیځ کې یو شمیر تاپوګان پراته دی چې شمیرې یې زرو ته رسیږي نو موږ وتاپو ګانو ته جاپان هیواد جوړ کړې دی . مهم تاپوګان یې، هانشو، هوکایدو، کیوشو، شیکوکو، اوساکا، یوکوهاما، هیروشیما، ناګاساکي او کاواساکي دي . مساحت یې ۳۷۲۳۱۳ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۱۲۵٫۵ ملیونو ته رسیدلی وو. ۷۷٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي، نژاد یې زیړ او مذهب یې بودایي او سنتو دي یو شمیر مسلمانان هم په کې شته د حکومت طرز یې شاهی

امپراطوري دی . رسمي ژبه يې جاپاني اوپايتخت
يې د توکيو ښار دی . د پيسو واحد يې چاپانی ين
دی . جاپان په آسيا کی يو مهم هيواد دی چې
مخصوصاً د بريښنا سامان يې خورا شهرت لري .



تمرین

۱ ـ چین د آسیا په کومه برخه کې پروت دی ؟

۲ ـ د چین څلورخواوې بیان کړه ؟

۳ ـ د چین مساحت او نفوس وویاست ؟

٤ ـ د فلپین مساحت او نژاد بیان کړه ؟

٥ ـ په فلپین کې کوم مذهبونه رواج لري ؟

٦ ـ د فلپین نفوس څوتنو ته رسیږي ؟

۷ ـ چاپان د آسیا کومې خواته پروت دی ؟

۸ ـ د چاپان نفوس په ۱۳۷٥ هجري شمسي کال کې څوتنو ته رسیدلې وو ؟

۹ ـ د چاپان دنامتو سیمارونو نومونه واخلی ؟

مشرکین په قهر شول او مسلمانانو ته یې آزار رسول او تکلیف ورکول پیل وکړل . د بني هاشم ذکور خ سره یې هر راز مناسبات وشلول او له هیڅ ډول ظلم او تیری څخه یې لاس ونکړه .

عمومي اوښکاره بلنه

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾

ترجمه : نو ښکاره (او په جهر کړه ای محمده!) هغه چې تاسو ورپې پرې اوکړئ او وارویه له مشرکانو څخه (او مه کوه هیڅ التفات او پروا د دوی ویلوته) (۱۴ پاره) ۹٤ آیه

د دې مبارک آیت په اساس د بعثت (نبوت) په څلورم کال آنحضرت ﷺ ښکاره دعوت پیل کړ . د دې لپاره چې د اسلام د مقدس دین احکام خلکوته ښکاره کړي د صفا غونډۍ ته چې کعبې شریفې ته نږدې پرته ده وخوت او په لوړ آواز یې وفرمایل : اې د مکې خلکو راشئ!

لومړی فصل

مکهٔ معظمه

مکهٔ معظمه د حجاز له مشهورو سنا رونو څخه
دا سې یو سنار دی چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو قبله
(کعبهٔ شریفه) په دې سنار کې واقع ده اوله همدې کبله
ورته مکهٔ معظمه وایي .

تایلنډ

تایلنډ د آسیا په جنوب ختیځ کې د هندچین په تاپو وزمه کې واقع دي شمال ته یې لاؤس او مایانمار، جنوب ختیځ ته یې کمبوچیا، جنوب ته یې د سیام خلیج ختیځ ته یې لاوس او لویدیځ ته یې مایانمار پراته دی.

مساحت یې (۵۰۷۱۷۴) کیلومتره مربع او د وګړو شمیر یې په (۱۳۷۵) کال کې (۵۸٫۸) ملیونه تنه وو.

د حکومت طرز یې مشروطه شاهي دی.

(۲۰٪) خلک یې په بنا رونو کې اوسیږي. نژاد یې زیږاومذهب یې بودایي او اسلام دی.

رسمي ژبه یې تایلندي او پایتخت یې

د بنکاک ښار دی . دپیسوواحدې تایلنډی بات دی .



اندونيزيا

اندونيزيا يو شمير تاپوگان دی چې د آسيا په جنوب ختيځ کې واقع دي چې تر استراليا پورې رسيږي . مهم تاپوگان يې بورنيو، سلبس سوماترا او جاوا دي .

مساحت يې (۱۹۰۴۳۴۴) کيلومتره مربع او نفوس يې په (۱۲۷۵) کال کې (۲۰۶٫۶) مليونه تنه وو.

دحکومت طرز يې جمهوري او ټاديې ژيړ اوتور دی . (٪ ۸۷) يې مسلمانان او نور يې مسيحيان دي . ژبه يې مالايي او اندونيزيايي ده . پايتخت يې د جاگارتا سنا ردی . نورمهم

سنا رونه يې، سورابايا، باندونګ اومدان دي.
دپيسو واحد يې اندونيزيايي روپۍ ده .



نیپال

نیپال په جنوبي آسیا کې موقعیت لري. شمال خواته یې چین، جنوب، لویدیځ او ختیځ، دریو خواوته یې د هند خاوره پرته ده.

مساحت یې ۱۴۵۸۰۰ کیلومتره مربع او نفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې ۲۲،۰۹۴،۰ ملیونه تنه وو.

د حکومت طرز یې مشروطه شاهي ده.

(۱۰٪) خلک یې په سنا رونو کې اوسیږي. د دغې هیواد نفوس، هندوان او مسلمانان تشکیلوي خلک یې د زیږ، هندي او تبتي نژاد څخه تشکیل شوي دي.

رسمي ژبه يې نيپالي او پايتخت يې د کټمنډو ښار دی . بل مهم ښار يې بيرات نګر دی .

د نيپال ۹۰٪ خلک په کليوکې هستوګنه لري او د پيسو واحد يې نيپالي روپۍ ده .

کمبوچیا

کمبوچیا چې د کامبوج په نامه هم یادیږي د آسیا په جنوب ختیځ کې پروت دي، شمال ته یې لاوس اوتایلنډ، جنوب ته یې ویتنام او د سیام خلیج، ختیځ ته یې ویتنام او لویدیځ ته یې تایلنډ واقع دي.

مساحت یې (۱۷۹۸۰۰) کیلومتره مربع دی. نفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې (۱۰٫۸) ملیونه تنه وو. د حکومت طرز یې جمهوري دی، نژادي زیرې اواقوام یې، خمر (۹۰٪)، ویتنامي (۴٪) اوچینایي (۵٪) دي.

پایتخت یې د پنوم پن سنا رډ د آزادي کال یې (۱۹۵۳) میلادي او د پیسو واحد یې د کامبوج ریل دی.


لاوس
تایلیند
ویت
کامبوج
بانکوک
کراتی
پنوم پن
کومپونگ سپیم
د سیام خلیج

تمرین

۱ ـ د تایلنډ څلور خواوې وړوایاست ؟

۲ ـ تایلنډ د آسیا په کومه برخه کې پروت دی ؟

۳ ـ د تایلنډ مساحت اونفوس وړوایاست ؟

٤ ـ د اندونیزیا څلور خواوې بیان کړئ ؟

٥ ـ د اندونیزیا د حکومت طرز څه ډول دی؟

٦ ـ د اندونیزیا پایتخت کوم ښار دی ؟

۷ ـ نیپال چیرته پروت دی او څلور خواوې کومې دي ؟

۸ ـ د کامبوج د حکومت طرز څه ډول دی؟

۹ ـ د کامبوج پایتخت کوم ښار دی ؟

منګوليا

منګولیاچې د مغلستان په نامه هم یادیږي د مرکزي آسیا په ختیځ کې واقع دی . شمال ته یې روسیه ، جنوب ، ختیځ اولویدیځ ته یې د چین اولسي جمهوریت واقع دی . مساحت یې (۱۵۶۸۵۰۰) کیلومتره مربع دی اونفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې (۲,۵) ملیونو تنوته رسیدلې وو .

۵۵٪ وګړي یې په سنارونوکې اوسیږي نژاد یې زیږ مغولي او د بودایې دین پیروان دي .

رسمی ژبه یې مغولي اوپایتخت یې د اولانباتور سنار دی .

دمکې معظمې اوسیدونکي راټول شول. آنحضرتؐ
ورته داسې وفرمایل:

«کـه زه تاسې ته ووایم چې ددې غونډې شاته یو
لښکر راروان دی نو تاسې به په دې ویناعمل وکړی»

ټولوحاضرینو وویل: هو! څکه چې مونږ لـه
تاسې څخه هروخت رښتیا اوریدلي دي.

آنحضرتؐ ښیا وفرمایل:

«زه تاسې ته دا وایم کـه تاسې ایمان رانه وړی
اومسلمانان نه شی نوتاسې به دسخت اودردناکه
عذاب سره مخامخ شی.»

ددې ویناا وبلنې په اوریدلوسره ابولهب د
آنحضرتؐ ترهٔ اونورخلك دخپلې ناپوهې له املـه پـه

د آزادي کال يې ۱۹۱۱ ميلادي اوپـولي
واحد يې توګريک دی .



شمالي کوريا

شمالي کوريا د آسيا په ختيځ کې واقع ده، شمال ته يې روسيه اوچين، لويديځ ته يې دچين اولسي جمهوريت، جنوب ته يې جنوبي کوريا اوختيځ ته يې د جاپان بحيره واقع ده.

مساحت يې ۱۲۱۳۴۰ کيلومتره مربع اونفوس يې په ۱۳۷۵ کال کې ۲۲٫۵ مليونه تنه وو.

د حکومت طرز يې جمهوري او ۶۲٪ خلک يې په ښارونو کې اوسيږي.

نژادي يې زيږ او د بودايي دين پيروان دي. پايتخت يې د پيونګ يانګ ښار دی. مهم ښارونه

يې، هونګنام، اُنسان اونوردي .

د آزادي کال يې، ۱۹۴۸، ميلادي دي اوپه
ملل متحد کې غړيتوب ته لري .

پولې واحدې د شمالی کوريا وان دی .



جنوبي کوريا

جنوبي کوريا د آسيا په ختيځ کې د کوريا د ټاپو وزمې په جنوبي برخه کې واقع ده .

شمال ته يې شمالي کوريا ، جنوب ته يې د ختيځ چين بحيره ، لويديځ ته يې زيړه بحيره او ختيځ ته يې د جاپان بحيره واقع ده .

مساحت يې ۹۸۴۸۴ کيلومتره مربع دي او نفوس يې ۴۵٫۵ مليونه تنه وو .

د حکومت طرز يې جمهوري او ۶۵٪ نفوس يې په سنارونو کې اوسيږي . نژادي زيړ او دين يې بودايي دی .

رسمي ژبه يې کوريايي اوپايتخت يې دسيول
سنار دی .

پولي واحدې دجنوبي کوريا وان دی .



ویتنام

ویتنام د آسیا په جنوب ختیځ کې پرت دي . شمال ته یې چین ، جنوب اوختیځ ته یې د چین بحیره اولویدیځ ته یې لاوس او کامبوج واقع دي .

مساحت یې ۳۲۵۶۹ کیلومتره مربع دی اونفوس یې ۷۴ ملیونه تنه وو .

دحکومت طرز یې جمهوری دي ، خلک ۲۱٪ یې په ښارونو کې اوسیږي . نژاد یې زیړ او ویتنامي دی . خلک یې بودایي اومسیحیان دي .

رسمي ژبه يې ويتنامی ده اوپايتخت يې
د هانوی ښار دی .

نورمهم ښارونه يې ، هوچي من، سايګون
دانانګ ، هايفونګ او تاترانګ دي .

دا هيواد په ۱۹۴۹ کال کی په دووبرخو
ووېشل شو چې يو يې شمالي اوبل يې
جنوبي ويتنام وو ، په کال ۱۹۷۶ کې
د واحد هيواد په شکل سره يوځای شو .

ويتنام په ۱۹۷۷ کال کې په ملګروملتونو
کې شامل شو .

د پيسو واحد يې دونګ دی .


هایفونگ
هانوی
د جنوبي چين بحيره
لا وس
کنوانگتری
هیو
دانانگ
کامبوج
هوچی من
خلیج سیام

تمرین

۱ ـ د منګولیا څلورخواوې بیان کړی ؟

۲ ـ منګولیا د آسیا په کومه برخه کې پروت دی ؟

۳ ـ د منګولیا مساحت او د حکومت طرز بیان کړی ؟

٤ ـ د شمالي کوریا څلورخواوې بیان کړی ؟

٥ ـ د شمالي کوریا د حکومت طرز څه دی ؟

٦ ـ د جنوبي کوریا څلورخواوې وایاست ؟

۷ ـ د جنوبي کوریا پایتخت څه نومیږي ؟

۸ ـ د ویتنام څلورخوا او مساحت بیان کړی ؟

۹ ـ د ویتنام نفوس څو ملیونه تنوته رسیږي ؟

لاوس

لاوس د آسیا په جنوب ختیځ کې واقع دی . شمال ته یې ویتنام اوچین ، جنوب ته یې کامبوج ، ختیځ ته یې ویتنام اولویدیځ ته یې تایلنډ واقع دی . مساحت یې ۲۳۴،۵۸۰ کیلو متره مربع دی . نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې (۴،۹) ملیونه تنه وو .

دحکومت طرز یې کمونیستی جمهوریت دی .

۱۵٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي .

نژادي یې زیږ او ۸۵٪ خلک یې بودایي او نورې په نورو ادیانو پوري اړه لري .

دپرقهـــر بیرته خپاره شول .

د نژدی خپلوانو بلنه

وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿٢١٤﴾

ترجمه : (الشعراء)

او وویروه تِ (د خدایه ای محمده ! هغه) خپلوان ستا چې په نژدې دي (تانه)

د پورتنۍ مبارک آیات د حکم له مخې آنحضرت ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته مشوره ورکړه ترڅو یو میلمستیا ترتیب کړي . څه وخت چې میلمستیا جوړه شوه د بنې هاشم د کورنۍ قول غړي چې د آنحضرت ﷺ نژدې خپلوان وو راوبلل شول او له دوی خوړلو څخه وروسته آنحضرت ﷺ پاڅید او داسې یې وفرمایل :

« ما هغه شی راوړي دي چې هغه د دین او دنیا

رسمي ژبه يې لاوسي او پايتخت يې د وين تيان سنار دی بل مهم سنار يې «لوانګ پرابانګ» دی .

د آزادي کال يې (۱۹۵٤) ميلادي او پولې واحد يې «کيپ» دی .



مالیزیا

مالیزیا د آسیا په جنوب ختیځ کې واقع ده . د تاپو وزمې شکل لري ، شمالي برخه یې د تایلنډ پورې نښتې ده ، لویدیځ ته یې د اندمان بحیره ، جنوب ته یې د مالاکا آبنا او سنګاپور او ختیځ ته یې د جنوبي چین بحیره موقعیت لري.

مساحت یې ۳۲۹۷۴۹ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۹۹۷ کال کې ۲۰ ملیونه تنه اټکل شوی وو.

د حکومت طرز یې مشروطه شاهي ده .

د دې هیواد پاچا د دیارلس ګونو ولایتونو د پاچاهانو په خوښه ټاکل کیږي . زیاتره خلک یې مسلمانان دي خال د اچې نور دینونه لکه مسیحي ، بودایي او

بت پرستي هم پکې رواج لري.

رسمي ژبه يې مالايايي او پايتخت يې د
دکوالالمپور ښار دی.

د آزادي کال يې ۱۹۵۷، ميلادي ګاونډی د پيسو
واحد يې رينګټ دی.



سنګاپور

سنګاپور یو کوچنی هیواد دی چې د آسیا په جنوب ختیځ کې واقع دی .

سنګاپور د ملایا په تاپو وزمې پورې نښتي دی . مساحت یې (۶۳۲) کیلومتره مربع او نفوس یې په (۱۲۷۵) کال کې (۲,۳۹۷) ملیونه تنه وو .

د حکومت طرز یې جمهوری او زیاتره خلک یې له زیږنژاد څخه دي ، یو شمیر سپین او تورنژاد هم په کې ژوند کوی .

د بودایي ، کنفوسیوس، مسیحیت او اسلام د دینونو پیروان لري .

پایتخت یې د سنګاپور ښار دی . د آزادۍ
کال یې ۱۹۶۳ میلادي دی .
پولي واحد یې سنګاپوري ډالر دی .



بوتان

بوتان د آسیا په جنوب کې واقع اویږي کوچنۍ هیواد دی .

شمال ته یې چین ، ختیځ ، لویدیځ او جنوب ته یې هند واقع دی .

مساحت یې ۴۷۰۰۰ کیلومتره مربع دی او د نفوسو شمیر یې په ۱۳۷۵ کال کې ۱،۸۲ ملیونه تنه وو. د حکومت طرز یې مشروطه شاهي دی . نژادي زیرتبتی دی ، ۷۵٪ خلک یې د هندویزم مذهب پیروان دي ، رسمي ژبه یې د تبتی ژبې یوه څانګه ده چې جونګکا نومیږي .

پایتخت یې د تیمفو ښار دی .

د آزادي کال یې ۱۹۴۹ میلادي دی، پولی واحدیې نګولترم دی اوهندی روپۍ هم په کې چلیږي .



یادونه : محترم ښوونکی دې د مشروطه شاهي اصطلاح زده کوونکوته په مفصل ډول بیان کړي او هم دې د دې ګوښ قوا و پرهکله معلومات ورا ندې کړي.

تمرین

۱ ـ د لاوس څلور خواوې وو ایاست ؟

۲ ـ د لاوس د حکومت طرز وو ایاست ؟

۳ ـ د مالیزیا څلور خواوې بیان کړې ؟

۴ ـ په مالیزیا کې څو ملیونه تنه اوسیدل ؟

۵ ـ د مالیزیا د حکومت طرز څه دی ؟

۶ ـ د سنګاپور څلور خواوې بیان کړې ؟

۷ ـ سنګاپور څومره مساحت لري ؟

۸ ـ د سنګاپور پولي واحد څه دي ؟

۹ ـ د بوتان څلور خواوې وو ایاست ؟

۱۰ ـ بوتان په کوم کال کې خپله آزادي ترلاسه کړه ؟

مايانمار

(برما)

مايانمار آسيا په جنوب ختيز کې واقع دي .
شمال ته يې د چين اولسي جمهوريت ، جنوب ته
يې د بنګال خليج ، ختيځ ته يې چين ، لاوس او تايلنډ
اولويديځ ته يې هند ، بنګله ديش او د بنګال خليج واقع دی .

مساحت يې ۶۷۸۱۷۰ کيلومتره مربع او
نفوس يې په ۱۳۷۵ کال کې تقريباً ۴۵٫۹ مليونه وو .
د حکومت طرز يې جمهوري او ۲۵٪ خلک يې په بناروکې اوسيږي . نژادي زيرچينايي اوهندی دی
۸۵٪ خلک يې د بودايي مذهب پيروان دي او
پاتې برخه يې مسلمانان ، مسيحيان اوهندوان دي .

رسمي ژبه يې برمايي ده .

وريجې يې لږمهمو زراعتي پيداوارو څخه شمېرل کيږي.

پايتخت يې رنګون اومهم بنادريې ماندالای دی.

د آزادی کال يې ۱۹۴۸، ميلادي اوپولي واحد يې "کيات" دی .



دوا پروضا من دی . ددې درونډ بار په پورته کیدو کې به څوک زما سره ملګرتیا وکړي ؟ "

ددې مبارکې وینا په اوریدلو سره مجلس چپ شو او چا څواب ورنکړ . مګر حضرت علي کرم الله وجهه ناڅاپه پورته شو او ویې ویل چې : " که څه هم زه د ټولو څخه کشر یم لیکن ستاسو ملګرتیا به وکړم .

حبشۍ ته د مسلمانانو هجرت

کله چې د اسلام بلنه سنکاره شوه ، مشرکینو به مسلمانان ډیر آزارول او ډول ډول تکلیفونه یې ورته رسول . په دې اساس رسول کریم ﷺ مسلمانانو

سریلانکا (سیلون)

د سریلانکا مملکت د ســـولوی اوشوروړو تاپوګانو څخه جوړشوی دی چې د هند په جنوب ختیځ کې د هند په بحر کې واقع دی .

مساحت یې ۶۵۶۱۰ کیلومتره مربع اونفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۱۸٫۵ ملیونو تنوته رسیدلی وو .

د حکومت طرز یې جمهوري او ۲۲٪ خلک یې په بناروونو کې اوسیږي . سپین اوزیرنژاد لري. ۶۹٪ خلک یې بودایان اونور یې هندوان ، مسلمانان اومسیحیان دي .

رسمي ژبه یې سنهالي او پایتخت یې د کولمبو

سنار دی .

د آزادی کال یې ۱۹۴۸، میلادي اوسپولي واحد یې سریلانکایي روپۍ ده .



بنګله دیش

د بنګله دیش هیواد د بنګال دخلیج په شمال کې واقع دی . د هند سره اوږده سرحدي پوله لري او په جنوب ختیځ کې د برما سره ګاونډي دی .

مساحت یې ۱٤٦٦۷۵ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۳۷۵ ، کال کې ۱۲۳ ملیونو ټنو ته رسیدلې وو . نژادي سپین او زیړ دی .

د حکومت طرز یې جمهوري او ۲۰٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي . ۸۳٪ یې مسلمانان ۱٦٪ یې هندوان او پاتې خلک یې بودایي او مسیحي دي .

پایتخت یې ډاکا ښار او نورمهم ښارونه
یې چیتاکانګ ، جیسور او نور دي .

کنف یا جوت یې مهم پیدا وار دي .

بنګله دیش په ۱۹۷۱ میلادي کال کې دیوه
مستقل هیواد په توګه تأسیس شو .

د پلیسو واحد یې تاکنې نومیږي .



عـراق

عراق د آسیا په جنوب لویدیځ کې د منځنۍ ختیځ له هیوادونو څخه دی .

شمال ته یې ترکیه او سوریه ، جنوب ته یې سعودي عربستان او د فارس خلیج ، ختیځ ته یې ایران او لویدیځ ته یې ، اردن ، سعودي عرب او د سوریې څه برخه ، واقع ده .

مساحت یې ۴۳۰۳۱۷ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۲۷۵ کال کې ۲۱،۴ ملیونه تنه وو .

د حکومت طرز یې جمهوري دی ، ۷۰٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي .

نژاد يې سپين سامي دی، ۹۵٪ خلک يې مسلمانان (۶۰٪ شيعه او ۳۵٪ سني) پاتې نور خلک يې د بيلا بيلو مذهبونو پيروان دي.

رسمي ژبه يې عربي ده، پايتخت يې د بغداد بنار دی او نور بنارونه يې، بصره، کوفه او موصل دي د آزادۍ کال يې ۱۹۳۲ ميلادي اوپولي واحدي عراقي دينار دی.

تمرین

۱ ـ د برما څلور خواوې بیان کړې ؟

۲ ـ د برما مهم زراعتي پیداوار څه شی دي ؟

۳ ـ د سریلانکا څلور خواوې وایاست ؟

۴ ـ په سریلانکا کې د کومو دینونو پیروان ژوند کوي ؟

۵ ـ د بنګله دیش څلور خواوې بیان کړې ؟

۶ ـ د بنګله دیش رسمي ژبه څه ده ؟

۷ ـ بنګله دیش په کوم کال کې خپله آزادي تر لاسه کړه ؟

۸ ـ د عراق څلور خواوی او مساحت بیان کړې ؟

ترکیه

ترکیه چې کوچنۍ آسیا هم ورته وایي د اروپا په جنوب ختیځ او د آسیا په جنوب لویدیځ کې واقع ده .

شمال ته یې تورۀ بحیره ، جنوب ته یې د مدیترانې بحیره ، سوریه او عراق ، ختیځ ته یې ایران او لویدیځ ته یې د ایجن بحیره او یونان واقع دی .

مساحت یې ۷۷۰ ۴۵۲ کیلومتر مربع او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۶۲٫۴ ملیونه تنه وو .

د حکومت طرز یې جمهوري او ۵۵٪ خلک یې په بنارونو کې اوسیږي . نژادي سپین او زیر

دي . ۹۸٪ خلک يې مسلمانان او نورې يهوديان او
مسيحيان دي . رسمي ژبه يې ترکي او پايتخت يې
دانقرې ښاردی . نورمهم ښارونه يې استانبول
ازمير، بورسا، ادرنا او نوردي .

پولي واحد يې ترکي ليره ده .



اُردن

اردن د اسیا په جنوب لویدیځ کې واقع دی .

شمال ته یې سوریه ،جنوب ته یې سعودي عربستان،ختیځ ته یې عراق اولویدیځ ته یې اسراییل واقع دي .

مساحت یې (۸۲۹۱۵) کیلومتره مربع اونفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې (۴،۲) ملیونه ټنه وو .

د حکومت طرزیې مشروطه شاهي او (۷۰٪) خلک یې په بنارونوکې اوسیږي .

نژادي سپین سامي دی او (۹۴٪) یې مسلمانان اونورپاتې (۵٪) یې مسیحیان دي .

رسمی ژبه یې عربي اوپایتخت یې دعمان بناردی.

تاجازه ورکړه ترڅوحبشي[1] ته چې پاچا يې يوعادل سړي
ووايو د نجاشي په نوم يادیده هجرت وکړي اوپه دې
توګه ځانونه د مشرکینو له آزار اوتکلیف څخه وساتي.

هماغه وو چې د لومړۍ ځل دپاره د بعثت په
پنځم کال ، يوولس تنو نارینه وو اوځلورو تنو ښځو په يوې
تجارتي بیړۍ کې حبشی ته هجرت وکړ. مشرکین
چې د مسلمانانو د هجرت څخه خبر شول نوره يې هم
خپله د ښځې سخته کړه اود دوهم ځل دپاره بیا
(۸۳) تنه نارینه او (۱۸) تنه ښځې د رسول اکرمؐ
په مشوره حبشې ته مهاجر شول اوترهغه وخته

۱ - حبشه د افریقا په لویه وچه کې موقعیت لري اوس د اتیوپی په
نوم یادیږي .

د آزادي کال پي ۱۹۴۶ میلادي اوپولي واحد پي اُردني دينار دی .



سعودي عربستان

سعودي عربستان د آسيا په جنوب لويديځ کې واقع دی او د منځنۍ ختيځ له هيواد ونو څخه دی . شمال ته يې عراق او اُردن ، جنوب ته يې عمان او يمن . ختيځ ته يې د فارس خليج او عربي متحده امارات او لويديځ ته يې سره بحيره واقع ده .

مساحت يې ۲,۲۴۹۱۰۹ کيلومتره مربع دی او نفوس يې په ۱۳۷۵ کال کې تقريباً ۱۹,۴ مليونه وو .

د حکومت طرز يې سلطنتی او ۷۲٪ خلک يې په سنارونو کې ژوند کوي . نژاد يې سپين سامي دی او ۹۹٪ خلک يې مسلمانان دی ، رسمي ژبه يې عربي ده

اوپایتخت یې د ریاض ښاردی . مکه معظمه چې بیت الله شریف په هغه کې واقع دی اومدینهٔ منوره چې د آنحضرتؐ زیارت په کې واقع دی خاص مذهبي اهمیت لري اړجده شریفه یې مهم بندر دی .

پولې واحد یې سعودي ریال دی .



بحرين

د بحرين هيواد د فارس د خليج په جنوب کې دځو
وړو جزيرو څخه جوړشوی دی .

مساحت يې ۶۸۶، کيلومتره مربع اونفوس يې
په ۱۳۷۵، کال کې ۵۹۰۰۰۰، تنه وو .

د حکومت طرز يې مشروطه شاهي اونژادي
سپين سامي دی .

وګړي يې ټول مسلمانان دي .

ژبه يې عربي ده . فارسي او انګريزی هم
په کې رواج لري .

پايتخت يې د منامه سنا ردی .

د آزادي کال يې ۱۹۷۱ ميلادي دی .

پولي واحديې بحرينی دينار دی .



تمرین

۱ - د ترکیې څلورخواوې بیان کړې ؟

۲ - د ترکیې د حکومت طرزځه دي ؟

۳ - د اُردن څلورخواوې وو ایاست ؟

٤ - اُردن څوکیلومتره مساحت لري اونفوس یې څوتنوته رسیږي ؟

۵ - د سعودی عربستان په څلورو خواووکې کوم ملکونه پراته دي او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې څوتنوته رسیدلې وو ؟

٦ - د بحرین څلورخواوې بیان کړې ؟

۷ - د بحرین پولی واحد څه نومیږي ؟

کویټ

کویټ د آسیا په جنوب لویدیځ کې واقع او د منځنۍ ختیځ په هیوادونو کې شامل دی . شمال ته یې عراق جنوب ته یې سعودی عربستان ، ختیځ ته یې د فارس خلیج او لویدیځ ته یې عراق او د سعودي عربستان یوشه برخه واقع ده .

مساحت یې (۱۷۸۱۸) کیلومتره مربع او نفوس یې کال (۱۳۷۵) کې (۱,۹۵۰) ملیونو تنو ته رسیدلې وو .

د حکومت طرز یې مشروطه سلطنتي دی ۸٤٪ خلک یې په ښارونو کې اوسیږي :

پایتخت یې د کویټ ښار دی (۸۵٪) خلک یې مسلمانان

دي . مهم ښارونه يې حوالي اوسليميه دي .

کويټ په نړۍ کې دتيلو حاصلوونکی ستر هيواد دی

پولی واحدي يې کويتی دينار دی .



عمان

عمان د آسیا په جنوب لویدیځ کې واقع دی. شمال ته یې عربي متحده امارات، جنوب ته یې د هند بحر او لویدیځ ته یې سعودی عربستان او جنوبي یمن اوختیځ ته یې د عمان خلیج واقع دی.

مساحت یې ۳۰۲٤٦٤، کیلومتره مربع اونفوس یې په ۱۳۷۵، کال کې ۲،۱۸۷، ملیونو تنو ته رسیدلې وو.

د حکومت طرز یې سلطنتي اورسمي ژبه یې عربي ده. پایتخت یې مسقط دی.

د آزادي کال یې ۱۹۷۰. میلادي اوپولي واحد یې عماني ریال دی.


امارات متحده عربی
عمان
مطرح
مسقط
آدم
صور
جزیره مصیره
سعودی عربستان
العین
جواره
بحر عرب
رباط
سلالن
یمن جنوبی

پوری په حبشه کې پاتې شول ترڅو پورې چې آنحضرت ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ او هغوی هم د حبشې څخه مدینې منورې ته لاړل .

د طایف سفر

د بعثت په لسم کال حضرت بی بی خدیجه (رض) او ابوطالب وفات شول . د دې دواړو په مړینې سره آنحضرت ﷺ ډیر غمجن شو حال دا چې قریش خوشحاله شول ځکه چې د آنحضرت ﷺ ډیر نژدې اود ډاډ ورکسان مړه شوې وو ځکه نو مشرکینو خپله د ښمنۍ نوره هم سخته کړه . په دې اساس آنحضرت ﷺ د طایف لورته چې د حجاز (سعودي عربستان) د مشهورو ښارونو څخه

قطر

قطر یوه تاپوزمه ده چې د آسیا په جنوب لویدیځ کې پرته ده او د منځنۍ ختیځ له هیوادونو څخه دی .

ختیځ، شمال او لویدیځ ته یې د فارس خلیج او جنوب ته یې د عرب متحده امارات او د سعودي عربستان یوځ برخه واقع ده .

مساحت یې ۱۱۲۹۵ کیلومتره مربع اوټقوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۱۵۴۸ زروتنوته رسیدلې وو .

د حکومت طرزیې سلطنتي او نژاد یې سپین سامي دی . ۹۸٪ خلک یې مسلمانان او نورې عیسویان دي .

رسمي ژبه يې عربي ده اوپايتخت يې «دوحه»
ښاردی .

د آزادۍ کال يې ۱۹۱۷ ميلادي دی اوپولي
واحديې د قطر ريال دی .



دعربو متحده امارات

فارس د خليج په جنوب ختيځ کې د اوو امیرنشینانو څخه یوه اتحادیه جوړه شویده چې دعربو د متحده امارات په نوم یادیږي .

مساحت یې (۸۲۶۳۰) کیلومتره مربع دی.

نفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې تقریباً (۳,۰۷۵) ملیونو تنوته رسیدلی وو .

(۲۶٪) خلک یې په ښارونوکې اوسیږي .

نژادي سپین سامي دی ، تقریباً (۳۰٪) خلک یې د ایران ، پاکستان او هند مهاجرتشکیلوي (۹۵٪) نفوس یې مسلمانان دي .

ژبه يې عربي ده اوپايتخت يې ابوظبي دی .



تمرین

۱ - دکویت څلورخوا وې وو ایاست ؟

۲ - دکویت مهم پیداوارځه دي ؟

۳ - دعمان څلورخوا وې وو ایاست ؟

٤ - دعمان دحکومت طرزځه دي اوهم وو ایاست چې په ۱۳۷۵ کال کې بې ځوتنه نفوس درلود ؟

٥ - قطر دآسیا په کومه برخه کې پروت دی ؟

٦ - دقطر څلورخوا وې بیان کړې ؟

۷ - دقطر دحکومت طرزځه دی ؟

۸ - دعربو متحده امارات څلورخوا وی بیان کړې ؟

۹ - دعربو متحده امارات ولې په دې نامه یادیږي ؟

قبرس

د قبرس هیواد د تاپو په شکل د آسیا په جنوب لویدیځ کې او د مدیترانې د بحیرې په خټیځه برخه کې واقع دی .

مساحت یې ۹۱۴۰ کیلومتره مربع اونفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۷۴۵ زرو تنو ته رسیدلې وو .

د حکومت طرز یې جمهوری دی ، ۵۳٪ خلک یې په سنارونو کې اوسیږي .

نژاد یې سپین دی ، ۷۷٪ خلک یې مسیحي دي اوپاتې ۱۸٪ مسلمانان دي .

رسمي ژبه يې يوناني او ترکي ده .

پايتخت يې د نيکوسيا ښار دی .

د آزادی کال يې ۱۹۶۰ ميلادی دی او پرلې

واحد يې قبرسي پونډ دی .

د يمن عربي جمهوريت

د يمن عربي جمهوريت شمال ته عمان او سعودي عربستان ، جنوب ته يې د عدن خليج او سره بحيره ختيځ ته يې عمان او د هند بحر او لويديځ ته يې سره بحيره پرته ده . مساحت يې ۵۲۵,۷۰۰ کيلومتره مربع دی اونفوس يې په ۱۳۷۵ کال کې تقريباً ۱۳,۴ ملیونه تنو ته رسيده دحکومت طرز يې جمهوري دی . په سلوکې ۲۹ تنه خلک يې په سنا رونوکې اوسيږي . نژاد يې سپين سامي دی او ژبه اوسيدونکي يې مسلمانان دي . رسمي ژبه يې عربي ده او پايتخت يې د صنعا سنا ردی . د آزادی کال يې ۱۹۱۸ ميلادي دی. په ۱۹۶۷ ميلادي کال کې يمن په دوو هيوادونو (شمالی او جنوبی،

وویشل شواو دشمالي یمن پایتخت دصنعا ښار او دجنوبي یمن
پایتخت دعدن ښار وټاکل شو.

په ۱۹۹۰ کال کې دواړه هیوادونه سره یوځای
شول او اوس دیمن عربي جمهوریت په نامه یادیږي.
پولي واحدې یمنی ریال دی.



سوریه

سوریه د منځنۍ ختیځ له هیواد دونو څخه یو هیواد دی چې د آسیا د لویې وچې په شمال لویدیځ کې پروت دی . شمال ته یې ترکیه ، جنوب ته یې اردن ، لویدیځ ته یې فلسطین اولبنان اوختیځ ته یې عراق موقعیت لري

مساحت یې ۱۸۳، زره کیلومتره مربع اونفوس یې په ۱۳۷۵، کال کې ۱۵،۶، ملیونو تنو ته رسیدلی .

دحکومت ډول یې جمهوری دی اوپه سلو کې ۴۹، تنه یې په ښارونو کې اوسیږي .

خلک یې په سپین سامي نژاد پورې اړه لري اوپه سلو کې ۹۰، تنه یې مسلمانان اوپه سلو کې ۱۰، تنه

وو او مکې معظمې ته نژدې وو، تشریف یووړ ترڅو
دطایف خلک اسلام ته دعوت کړي او د مسلمانانو
پلویان پیدا شي .

کله چې دطایف خلکو ته د اسلام راوړلو بلنه
ورکړل شوه او د خدای ﷻ احکام ورته واورول شول د
طایف خلکو دخپل جهالت اوناپوهۍ له امله دا بلنه ونه منله
او برسیره پردې یې دطایف کوچنیان او ځوانان ولمسول
اوپه آنحضرت ﷺ یې دکانړو او ډبرو ګذارونه وکړل اودې
مبارک ته یې دومره تکلیف ورساوه چې مبارک وجود
یې تپي شو اوپښې مبارکې یې دوینو څخه ډکې شوې اوپه
پیر زحمت سره بیرته مکې معظمې ته راستون شو .

سره د دې دومره تکلیفونو اوسختیو چې آنحضرت

يې عيسويان دي . رسمي ژبه يې عربي ده اوپايتخت
يې د «دمشق» ښاردی . سوريې خپله خپلواکي په
۱۹۴۴ ميلادي کال کې لاسته راوړې ده .
د پيسو واحد يې د سوريې ليره ده .



فلسطين

فلسطين د آسيا جنوب لويدځ خواته موقعيت لري چې شمال خواته يې لبنان ، جنوب خواته يې د سيناء ټاپو وزمه چې د مصر لدمربوطاتو څخه دي ، شرق خواته يې سوريه اواُردن اولويدځ خواته يې د مديترانې بحيره پرته ده .

فلسطين د موقعيت له لحاظه عربي هيوادونو ته ډير اهميت لري ځکه چې د عربي هيوادونو په زړه کې واقع اود پل په صفت ، افريقايي اوآسيايي عربي هيوادونو سره يوځای کوي اود جزيرة العرب اود مديترانې د اتصال او ارتباط دلاري حيثيت

هم لري .

مساحت يې ، ٦,١٧٠ ، کيلومتره مربع اونفوس يې په ، ١٣٧٥ ، ميلادي کال کې ، ٢,٣٥٠٠٠٠ ، تنو ته رسيده

مرکزيې د قدس ، ښاردی چې بيت المقدس د نړۍ د ټولو مسلمانانو ځانګه قبله (مسجد اقصیٰ) هم په دغه ښار کې ده .

اسرایيل

اسرایيل د آسیا په جنوب لویدیځه برخه کې پروت دی .

شمال ته یې لبنان ، جنوب ته یې اُردن لویدیځ ته یې د مدیترانی بحیره اوختیځ ته یې سوریه پرته ده .

مساحت یې ۲۰۱۶۰ زره کیلو متره مربع ته رسیږي. اوسنفوس یې په ۱۹۹۷ کال کې تقریباً ۵،۴ ملیونو ته رسیده . د حکومت طرز یې جمهوري دی اوزیادې سپین دی . ۸۳٪ خلک یې یهودیان ، ۱۳٪ مسلمانان اوپاتې نور یې مسیحیان دي .

رسمي ژبه يې عبراني او پايتخت يې د "تل ابيب" ښاردی .

اسراييل په ۱۹٤۹ ميلادي کال کې د يواشغالګر هيواد په توګه منځته راغې .

پولی واحديې اسراييلی ليږه ده .



لبنان

لبنان په آسیا کې د منځنۍ ختیځ له هیوادونو څخه دی .

شمال اوختیځ ته یې سوریه ، جنوب ته یې فلسطین اولویدیځ ته یې د مدیترانې بحیره واقع ده .

مساحت یې (۱۰۴۰۰) کیلومتره مربع اونفوس یې په (۱۳۷۵) کال کې (۲,۷۰) ملیونو تنو ته رسیدلې وو .

د حکومت طرز یې جمهوري اونژاد یې سپین سامي دی .

(٪ ۷۰) خلک یې مسلمانان او (٪ ۳۰) خلک یې مسیحیان دي .

۸۳٪ خلک پې په سنارونو کې اوسیږي .

رسمي ژبه يې عربي ده او پايتخت يې بيروت سنار دی .

د آزادۍ کال يې ۱۹۴۳ ميلادي او پولې واحد يې لبناني ليره ده .



تایوان

تایوان چې فارموسا یې هم وایي د آسیا په ختیځ کې یو ټاپو دی او د چین په جنوب ختیځ کې د ۱۵۰ کیلو متره په فاصله په بحرالکاهل کې د چین ساحل ته نژدې واقع دی.

مساحت یې ۳۵۹۸۱ کیلومتره مربع او نفوس یې په ۱۳۷۵ کال کې ۱۵،۲۱ ملیونونه زیات وو.

د حکومت طرز یې جمهوري دی. ۷۲٪ خلک یې په بناروونو کې اوسیږي. نژادي زیرچینایي او د بودیزم تائویزم او مسیحیت د مذهبونو پیروان دی. یوشمیر مسلمانان هم په کې اوسیږي. رسمي ژبه یې چینایي ده او پایتخت یې د "تایپې" بنار دی.

دجوړیدو کال یې ۱۹۴۹ میلادي دی . په ۱۹۴۵ کال
کې دملګرو ملتونو په مؤسسه کې شامل شو خو کله چې چین
دملګرو ملتونو غړیتوب حاصل کړو تایوان له دې موسسې
څخه وایستل شو .

پولي واحدې تایواني دالردی .

فدراتیف روسیه

روسیه د مساحت له لحاظه د آسیا له سترو هیوادونو څخه دی چې شمال خواته یې منجمد شمالي بحر، جنوب خواته یې کوریا، چین، منګولیا، قزاقستان آذربایجان، ارمنستان، ګرجستان او تور بحیره، خپګ لور ته یې د بیرنګ آبنا، د بیرنګ بحیره د هوخوستک بحیره او د جاپان بحیره او لویدیځ ته یې لتوانیا، استونیا لتویا سپینه روسیه، اوکراین او فنلنډ واقع دي.

دا هیواد د مساحت له مخې د نړۍ تر ټولو لوی هیواد دی اوله ۱۵، جمهوریتونو څخه جوړشوی دی او چې له دې ډلې څخه ۸، جمهوریتونه چې نومونه یې په لاندې ډول

دطایف لرخلکو څخه ولیدل بیایي هم هغوی ته د
خیر دعا وکړه او دخدای ﷻ لدربار څخه یي وربنه د
هدایت غوښتنه وکړه .

مکي معظمې ته دیثرب دخلکو راتګ

دښت په لسم کال لدیثرب څخه څوتنه دنورو عربو
په شان مکي معظمې ته دکعبي شریفي دزیارت دپاره
راغلل ، حضرت رسول اکرم ﷺ په عقبه (منا) نومی ځای
کي له دغو خلکو سره ولیدل او هغوی یي اسلام ته
دعوت کړل دیثرب خلکو دا بلنه ومنله او په اسلام
مشرف شول . څه وخت چي دغه کسان یثرب ته
ستانه شول د اسلام د مبارک دین په خپرولو کي

دي په آسيا کې موقعيت لري :

آذربايجان ، ارمنستان ، ازبکستان ، تاجيکستان

ترکمنستان ، قرغزستان ، قزاقستان اوګرجستان .

د روسيې پايتخت مسکو ښار دی .

د پيسو واحدې روبل دی .



د مرکزي آسیا جمهوریتونه

د مرکزي آسیا جمهوریتونه د تاجکستان، ازبکستان ترکمنستان او د قزاقستان له جمهوریتونو څخه عبارت دي.

نومورې جمهوریتونه د غرونو او دروپه پراخه حاصلخیزه د سبنتوکې موقعیت لري چې یوله بل سره ګډ طبیعي اوتاریخي اړیکي لري. په دې هیوادونوکې د پنبې کرنه، طبیعي ګاز او د نفتو استخراج ډیره ودې کړیده. همدارنګه په نومورو هیوادونوکې د قره قل پوټکو او اومورسنبو صنعت هم پرمختګ کړیدي. د غالیو صنعت یې په نړۍ کې شهرت لري.

۱ - تاجکستان:

د تاجکستان جمهوریت د شمال له لورې د قرغزستان

اوازبکستان په جمهوریتونو، د جنوب له لوري افغانستان
په اسلامي جمهوریت، د ختیځ له لوري د چین په ولسي
جمهوریت او د لویدیځ له لوري د ازبکستان په جمهوریت
پورې ترلې دی. تاجکستان یو غرنی هیواد دی چې د
پامیر د لوړې سطحې یوه زیاته اندازه په همدې هیواد
کې موقعیت لري. د تاجکستان جمهوریت (۱۳۸۲۸۸)
زره کیلومتره مربع مساحت اوښ دی شپږ ملیونه
نفوس لري. د دی هیواد پایتخت د دوشنبې ښار
دی. د دې هیواد زیاتره اوسیدونکي د اسلام
د سپیڅلي دین پیروان دي.

رسمي ژبه یې تاجکی ده.

پولی واحد یې روبل دي.



۲ - ازبکستان :

د ازبکستان جمهوریت د شمال له لوري د یورال په جهیل او د قزاقستان په جمهوریت ، د جنوب له لوري د افغانستان په اسلامي جمهوریت ، د ختیځ له لوري د قزاقستان ، قرغزستان او تاجکستان په جمهوریتونو او د لویدیځ له لوري د ترکمنستان په جمهوریت پورې ترلې

دی . ددې هیواد مساحت ۴۴۲، زره کیلومتره مربع اونفوس یې تقریباً ۲۳،۵ ملیونو تنوته رسیږي .

خلک یې د اسلام د مقدس دین پیروان دي. رسمي ژبه یې ازبکي اونژاد یې زیرمغولي دی .

پایتخت یې د تاشکند، تاریخي ښار دی چې د هیواد په شمال ختیځ کې موقعیت لري . د تاشکند په

سنا رکې نژدې ۲۰۰ علمي او تحقیقاتي مرکزونه او انستیتونه شته دی . په ازبکستان کې د پنبې کرنه او تولید ډیر شهرت لري .

پولي واحد يې دونګ دی .

۳ ـ ترکمنستان :

ترکمنستان جمهوریت د شمال له لورې په ازبکستا او قزاقستان ، د جنوب له لورې د افغانستان په اسلامي جمهوریت ، د ختیځ له لورې په ازبکستان او د لویدیځ له لورې د ایران په اسلامي جمهوریت پورې نښتی دی .

مساحت يې ۴۸۸۱۰۰ زره کیلومتره مربع او نفوس

يې تقريباً ۴،۱۴۹ ملیونو تنو ته رسيږي . د ترکمستان خلك د اسلام د مقدس دين پيروان دي . نژاد يې زيرمغلي او رسمي ژبه يې ترکمني ده . پايتخت يې د « عشق آباد » ښار دی چې د ايران پولو ته نژدې پروت دی . هوايي ډيره توده او د قراقرم سوځونکی ډبنښته په هغه هيواد کې پرته ده . پولی واحدې مناتدی.

يې تقريباً (۴,۵) ملیونو تنو ته رسيږي . ټرادې زيږ او د اسلام مقدس دين اوبودايي دين پيروان دي .

د دې خلکو ژبه ترکي او روسي ده او د ځينو سيمو خلک يې په چينايي ژبه هم ګږيږي .

د دې هيواد پايتخت د « فرونزې » ښار دی .

د دې هيواد زياتره خلک په کرنه او مالداري بوخت دي .

۵ ـ قزاقستان :

د قزاقستان جمهوريت د مرکزي آسيا د لويو هيوادونو څخه ګڼل کيږي . د قزاقستان د جمهوريت شمال ته فدراتيف روسيه ، جنوب ته يې د قرغزستان او ازبکستان جمهوريتونه

يې تقريباً (۴,۵) ملیونو تنو ته رسيږي . نژادي يې زيږ او د اسلام مقدس دين اوبودايي دين پيروان دي .

د دې خلکو ژبه ترکي او روسي ده او د ځينو سيمو خلک يې په چينايي ژبه هم ګږيږي .

د دې هيواد پايتخت د « فرونزې » ښار دی .

د دې هيواد زياتره خلک په کرنه او مالداري بوخت دي .

۵ ـ قزاقستان :

د قزاقستان جمهوريت د مرکزي آسيا د لويو هيوادونو څخه ګڼل کيږي . د قزاقستان د جمهوريت شمال ته فدراتيف روسيه ، جنوب ته يې د قرغزستان او ازبکستان جمهوريتونه



ختیځ ته یې چین اولویدیځ ته یې فدراتیف روسیه او دکسپین بحیره پرته ده .

مساحت یې (۲,۶۸۵,۰۰۰) کیلومتره مربع اونفوس یې تقریباً (۱۷) ملیونه تنه دی . دقزاقستان خلک د داسلام دمقدس دین اوبودایي دین پیروان دي.

يې زيات کوښښونه وکړل په دې توګه په يثرب کې د مسلمانانو شمير ورځ په ورځ مخ په زياتيدو وشو هغه وخت چې آنحضرت ﷺ يثرب ته هجرت وکړ ديثرب په هرکورکې يو يا دوه تنه په اسلام مشرف شوي وو .

د عقبې بيعت اوترون[1]

د بعثت په يوولسم کال کې چې د مدينې منورې (يثرب) مسلمانان دج په وخت کې مکې معظمې ته راغلل په عقبه کې يې د آنحضرت ﷺ سره وليدل اودا بيعت يې ورسره وکړ :

۱ - دعقبې لربيعت څخه يوکال د مخه خوتنه د مدينې منورې اوسيدونکي دج په وخت کې په اسلام مشرف شوي وو .

په دې هیواد کې خلک په روسي او ترکي ژبو خبرې کوي او په ځینو سیمو کې یې چینایي ژبه هم رواج لري .

پایتخت یې د الماتا ښار دی چې د قزاقستان د جمهوریت په جنوب ختیځ کې موقعیت لري .

دا هیواد د نفتو او د بروسکرو ډیرې زیرمې لري .

له قفقاز څخه اخوا جمهوریتونه

۱ - ارمنستان :

د ارمنستان جمهوریت د شمال له لورې د گرجستان

په جمهوریت ، د جنوب له لوري د ایران په اسلامي جمهوریت
د ختیځ له لوري د آذربایجان په جمهوریت او د لویدیځ له
لوري د ترکیې په جمهوریت پورې ترلې دی .

مساحت یې ۳۰،۰ زره کیلومتره مربع او نفوس
یې ۳،۵ ملیونو تنوته رسیږي .



ددې هیواد اوسیدونکي د مسیحي دین پیروان دي. ژبه یې ارمني ده او په ځینو سیمو کې یې په روسي او ترکي ژبو ګږیږي. پایتخت یې د ایروان ښاردی.



۲ - ګرجستان :

د ګرجستان جمهوریت د شمال له لورې په فدراتیف روسیې، د جنوب له لورې په ارمنستان او د ترکیې

په جمهوريت د ختيځ له لوري په آذربايجان
اودلويځ له لوري په تورې بحيرې پورې نښتې دی .

مساحت يې ۶۸،۶ زره کيلومتره اونفوس يې
تقريباً ۵،۸ مليونو تنوته رسيږي . اوسيدونکی يې د
مسيحي دين پيروان دي . ژبه يې گرجي اوروسي
ده اونژادي آريايي دي . پايتخت يې د تبليسي ښار
دی .

۳ ـ آذربايجان :

د آذربايجان جمهوريت د شمال له لوري په فدراتيف
روسيې ، د جنوب له لوري د ايران په اسلامي
جمهوريت ، د ختيځ له لوري د کسپين په بحيرې او

د لويديځ له لوري د ګرجستان او ارمنستان په
جمهوريتونو پورې ترلې دی .

مساحت يې ۸۵، زره کيلومتره مربع او نفوس
يې تقريباً ۷،۸ مليونو تنوته رسيږي . نژادي يې زيرمغولي
او سپين آريايي دی او د اسلام د مقدس دين پيروان
دي . د آذربايجان زياتره خلک په روسي او ترکي
ژبو خبرې کوي اولږ څه خلک په فارسي ژبه ګړيږي .



ARIC
B
6.421
MOE
2425.v.7

په ماین باندی لاسوهل د سر خطر لری!



د چاپ شمیر: . . . . . .

د افغانستان له پاره تعلیمی پروژه

د چاپ حق محفوظ دی

د یو اِن اچ سی آر (UNHCR) په مالی مرسته

چاپونکی: داکبر مطبعه

پایتخت یې د باکو بنار دي چې په سیمه کې د نفتو د
ایستلو او تصفیې مرکز دی .

تمرین

۱ - د مرکزي آسیا د جمهوریتونو نومونه واخلی ؟

۲ - د د وشنبې ، تاشکند او عشق آباد بنارونه د کوم جمهوریتونو
مرکزونه دي نومونه یې واخلی او په نقشه کې یې په نښه کړی ؟

۳ - زمونږ د کران هیواد سره کوم هلکونه ګډه پوله لري ؟

۴ - د مرکزي آسیا د کومو جمهوریتونو اوسیدونکي
د اسلام د مقدس دین پیروان دي ؟

۵ - د آذربایجان خلور خوا وې بیان او هم یې
په نقشه کې په نښه کړی ؟

"موږ به خدای ﷻ سره شریک نه پیدا کوو، غلا به نه کوو، زنا به نه کوو، خپل بچي به نه وژنو، په چا باندې به د درواغو تهمت نه تړو، د خدای ﷻ جل جلاله اوده غه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت به کوو."

رسول الله ﷺ ورته په ځواب کې وفرمایل:

"که تاسې پخپل عهد اوترون باندې وفادار پاتې شوی ستاسې اجر به جنت وي او که د هغې څخه مو سر غړونه وکړه ستاسې معامله به د خدای ﷻ سره وي که رضایې وي وبه مو بښي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي."

د غه بیعت اوترون د عقبې د لومړي بیعت په نامه یاد یږي.

په همدی ډول د بعثت په دوولسم کال د یثرب څخه د اَوس اوخزرج د قبیلو ۷۳، تنه نارینه وو او د ۵ه سنځوڅې ټول په اسلام مشرف شوی وو په مکه معظمه کې د حج د مراسمو د اداء کولو وروسته په عقبه کې د آنحضرت سره ولیدل او د هر راز مرستې او سرښندنې وعده یې ورکړه چې دا وعده اوعهد د عقبې د دوهم ټرون په نامه یادیږي چې د همدې ټرون په اساس د مکې معظمې څخه د یثرب په لور د مسلمانانو هجرت پیل شو.

تمرین

۱ - لومړی کوم کسان په اسلام مشرف شول ؟

۲ - آنحضرت ص. سنګاره بلنه په کوم ځای کې پیل کړه ؟

۳ - د حبشې ته په لومړی او دوهم ځل هجرت کې د مسلمانانو شمیر څومره وو ؟

کعبهٔ شریفه چې د نوح علیه السلام په طوفان کې رنګه
اوآثار یې له منځه تللي وو ، حضرت ابراهیم علیه السلام
او د هغه زوی حضرت اسمٰعیل علیه السلام دخدای ﷻ
په امرسره بیا ودانه کړه .

دنړۍ ټول مسلمانان د ج د فریضې د اداکولو
لپاره هرکال په تاکلي وخت په مکهٔ معظمه کې سره راټولیږي.



دریم فصل

ہجرت

وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَماً
كَثِيْراً وَسَعَةً ط وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا
اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ
فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ط وَكَانَ
اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ ۔سورۃ النساء ۱۰۰ آیت۔

ترجمه: "او هرڅوک چې وطن پریږدي (اولاړشي) په لاره د الله ج کې نوویه مومي (دې) په ځمکه کې (په مقابل د هجرت کې) دآرامۍ ځایونه پیدا کوي (د روزې) او هرڅوک چې ووځي له کوره خپله په داسې حال کې چې هجرت کوونکې وي طرف د الله او رسول ته (جهاد، علم او اونور ومشروعو امورو ته) بیا ومومي (لاندې کړي) دې مرګ (بهرله کوره) نو په تحقیق واقع شو اجر (ثواب) دده په الله ﷻ باندې او دی الله سبنه ښښونکې (د خطیاتو) ډیر رحم والا (په انعام دا جـــر او ثواب سره)".

څرنګه چې آنحضرت ﷺ ته دیڅرب د مسلمانانو له خوا د هرڅ راز مرستې پوره پاڼه حاصل شوې وو ځکه نو

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مکې معظمې
مسلمانانوته د یثرب په لور د هجرت امر ورکړ تر
څو د یوې خوا د مشرکینو د تکلیف او آزار څخه خلاص
شي او له بلې خوا اسلامي احکام په کامل او بنکاره
ډول پرځای کړي .

هماغه ووچې ډلې ډلې مسلمانان د خدای ج
د رضا او د هغه د محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم
د اطاعت او خوښۍ لپاره د هرڅه څخه تیر
شول او خپل خوږ ټاټوبي (مکهٔ معظمه)
یې د مدینې منورې (یثرب) د تللو په قصد
پریښود او پدې ډول هجرت پیل شو .

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

هجرت

مسلمانانو چې د یثرب په لور هجرت پیل کړ خپله حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خدای ﷻ امر او حکم ته په انتظار کې وو ترڅو د بعثت دیارلسم کال پای ته ورسید او د الله ﷻ له خوا حضرت محمد ﷺ ته د هجرت حکم راغې .

سمدستی یې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) کورته تشریف یووړ او هغه یې د خدای ﷻ د امر څخه خبر کړ .

حضرت ابوبکر صدیق (رض) چې د هدې ورځې دپاره

اوښې سائلې وې ، ځان د رسول اکرمؐ د ملګرتیا دپاره تیارکړ .

رسول اکرمؐ د شپې په تیاره کې په داسې حال کې چې قریشو اونورو مشرکینو د هغه مبارک د قتل نقشه جوړه کړې اوښوي کورې محاصره کړې وو د خپل تره زوی حضرت علیؓ په خپله بستره کې د خلکو دامانتونو د سپارلو دپاره پریښود او دکورڅخه ووت .

خدایؑ مشرکین غافله اوبې خبره کړل اوخپل محبوب پیغمبرؐ یې د دوی د شرڅخه خلاص کړوروسته په هماغه شپه آنحضرتؐ په وعده شوي ځای کې د ابوبکر صدیقؓ سره یوځای شو اودواړه خوارې دوستان د ثور نومې غرې یوغاړته ورغلل ترڅو

د مشرکینو د سمد ستي لپاره اوښارنې څخه خلاص شي .

مشرکینو به یې څارنه وکړه حتیٰ د همدې غار تر خولې پورې هم را ورسیدل مګر الله تعالیٰ ج بیا مشرکین غافله کړل لکه چې په قرآنکریم کې دا پیښه داسې بیان شوېده :

إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ (التوبه)

ترجمه : "که وې نکړئ تاسې مرسته له دغه رسول ﷺ سره نو الله ج به مرسته ورسره وکړي ځکه چې پس په تحقیق سره مرسته

فرمایلی وه له دغه رسول سره الله ﷻ کله چې راوویست دی، له مکې، هغوکسانو چې کافران شوی وو حال دا چې دی دوهم د دوو وکلو چې دوی دواړه په غار کې وو کله چې وویل محمد ﷺ ملګری خپل، ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته مه خپه کیږه خکه چې الله موږ سره دې په ساتنه، ثواب ورکولو او نصرت کې .

نو نازل کړ (راولیږه) الله ﷻ تسکین، رحمت دا په ده خپل په دغه محمد ﷺ یا صدیق رضی الله عنه او تایید وفرمایه الله ﷻ د رسول ﷺ په داسې لښکرو سره چې نه لیدلې تاسو هغوی او وګرځوله الله ﷻ کلمه د هغوکسانو چې کافران شوي دي، چې د شرک یا د کفر یا د کفر دعوت دی، سنګته او کلمه د الله ﷻ غالب قوي دی، چې د توحید او د اسلام دعوت دی، لوړه، غالبه

همیشه . او الله ﷻ غالب ، قوي دی د« احکامو په انفاذ »
سنه حکمت والاچې هرکار په تدبیر سره کوي . »

تر دې وړځو پورې آنحضرت ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه
په همدی غار کې تشریف درلود . په خلورمه ورځ دیثرب
په لور روان شول ، له خورځو سفر څخه وروسته د ربیع
الاول د میاشتې په دولسمه ورځ . قباء نومی ځای ته چې
یثرب ته نژدی پروت دی ، ورسیدل او دیثرب د مسلمانانو
له خوا یې ترد هرکلی وشو .

په دې ځای کې یې د اول ځل د پاره دیو مسجد بنسټ
کیښود چې په اسلام کې لومړنی مسجد دی او دا مسجد
قبا په نوم یادیږي .

آنحضرت ﷺ خو ورځې په قبا کې تم شو او بیا یې یثرب ته

تشریف یووړاو د هغې ورځې څخه د یثرب نوم په مدینې منورې بدل شو.

تمرین

۱ ـ آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره په هجرت کې څوک ملګری وو؟

۲ ـ حضرت محمدؐ مدینې منورې ته نژدی په کوم ځای کې تم شوا و هلته یې څه وکړل؟

غزاکاني

اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ؕ
وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ۙ﴿۳۹﴾

ترجمه: (حج سورة ، ۳۹ آية

«حکم ورکړشوې دې دقتال ، هغوکسانوته
چې قتال ورسره کاوه شي ، لطرفه دکفارو ، په دې
سبب چې بیشکه پردوی ظلم کړی شوې دې اوبیشکه
چې الله پرمددګاری ددوی خامخا ښه قادر دی.»

دهجرت وروسته مسلمانان دمشرکینواوقریشو
لتکلیف رسولو اوظلمونوڅخه په ظاهري دول خلاص
شول مګرهروخت دا ویره موجوده وه چې مشرکین

د مکې معظمې اوسيدونکي قريش وو چې د بني هاشم اوبني اميه کورنۍ يې مشهورې وې . زموږ پيغمبر حضرت رسول اکرم صلي الله عليه وآله وسلم د بني هاشم لکورنۍ څخه دی .

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ
لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَّهُدًى
لِّلْعَالَمِينَ ﴿٩٦﴾

(د آل عمران ۹۶ آية، ۴ پاره)

ترجمه :

(بې شکه پرومبنی کورته (بيت الله) چې جوړه شوی ده (د تولونه پخوا د عبادت لپاره) خلکو ته خاص د هغه کورته) هم دا ده چې مکه کې ده . جال دا چې برکت ناکه اولارښوونکی ده خلقونه ته »

به په مسلمانانو تیری کوي او دهمدی تیري د پاره مشرکینو او کفارو په لمسونو او پارونو شروع وکړه ترڅو په مدینه منوره کې مسلمانان آرام نشي او اسلام پراخوالي پیدا نکړي .

په دې اساس د الله ﷻ لخوا آنحضرت ته د جهاد امر نازل شو ترڅو د مشرکینو او کفارو د تیریو په مقابل کې مسلمانان هم جهاد وکړي .

د دې الهي حکم څخه وروسته آنحضرت ﷺ او مسلمانانو د مشرکینو او کفارو د تیریو په مقابل کې زیاتې جګړې وکړې چې د اسلام په تاریخ کې د غزواتو (غزاګانو) په نوم یادیږي چې د دغه غزاګانو څخه څو یې مشهورې غزاګانې بیانوو .

د بدر غزا

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ
فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

. آل عمران،۱۲۳، آیة

ترجمه:

« اوخامخا په تحقیق مرسته کړې وه لرتاسې سره
الله ﷻ په جنګ، د بدر کې حال داچې تاسې کمزورې
وی نو وویریږی له الله ﷻ نه لپاره د دې چې شکر وکړی تاسې»

لکه چې مخکې مو هم ولوستل، د مکې مشرکینو
نه غوښتل چې په مدینه منوره کې مسلمانان آرام
وي اویا د اسلام د مبارک دین لمنه پراخه شي خکه
نو هر وخت په دې تکل کې وو چې په مدینه منوره

حمله وکړي او مسلمانان له مینځه یوسي .

کله چې د هجرت په دوهم کال د قریشو یو تجارتي کاروان د ابوسفیان په مشرۍ شام ته لاړ. آنحضرت ﷺ د اصحابو کرامو سره مشوره وکړه او دیولږ خبرو څخه وروسته ۳۱۳، تنو مسلمان مهاجرو او انصارو د کاروان د بیرته راتګ لاره ونیوله ترڅو په دې توګه قریش او نور مشرکین وبیروي او هغوی کمزورې کړي .

ابوسفیان چې د حضرت رسول اکرم ﷺ د دې قصد څخه خبر شو مکې ته یې خبر ولیږه او مشرکینو سمدستي د زرو تنو په شاوخوا کې یو لښکر په پوره جنګي سامان او آلاتو سمبال کړ او د ابوجهل په مشرۍ یې د ابوسفیان د مرستې د پاره واستول .

څه وخت چې د مشرکینو لښکر بدر نومې ځای ته ټږې
شو ورته معلومه شوه چې کاروان لاره بدله کړې او بې له
کوم زیان څخه د مکې په لور روان دی . مګر ابوجهل
د مشرکینو مشر د قریشو د لښکر سره بدر نومې ځای ته
چې د مدینې منورې څخه ۸۰ میله لیرې پروت دی ولاړ
او د مشرکینو لښکرې په مسلمانانو باندې د تیری د پاره
وهڅاوه . څه وخت چې حضرت محمد ﷺ د دی پیښې څخه خبر
شو د هماغه ۳۱۳ تنه اصحابو کرامو سره د مشرکینو د
مقابلې ته تیار شول

د هجرت دوهم کال او د روژې د مبارکې میاشتې
۱۷ ورځ وه چې په بدر کې غزا پیل شوه د سختې نښتې
څخه وروسته مجاهد مسلمانان د الله ﷻ په نصرت او د کلک

ایمان اوښه تنظیم په لرلو سره د مشرکینو په لوی لښکر
برېالي شول او په دې د ډول خدای ﷻ فتحه د مسلمانانو
په برخه کړه .

قرآن کریم د دې پېښې او نصرت بیان د آل عمران
د سورې په ۱۲۳ آیت کې لکه څرنګه چې مخکې ذکر شو کړی
دی .

په دې غزا کې د مسلمانانو څخه ۱۴ تنه د شهادت
لوړ مقام ته ورسېدل او د مشرکینو څخه ابوجهل په
ګډون ۷۰ تنه ووژل شول او ۷۰ تنه نور غټ غټ مشران
یې ژوندي ونیول شول . څرنګه چې دا غزا په بدر کې پېښه
شوېده ځکه نو بدر غزا په نامه یادېږي او د مسلمانانو
او مشرکینو ترمینځ لومړۍ غزا بلل کېږي .

د احد غزا

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ۝

ترجمه : (آل عمران آیت ۱۳۹)

«او مه سسته یږه او مه غمګین کیږه او تاسي غالب یاستی که چیرته وی دایمان لرونکي»

مشرکین د بدر په غزا کې د زیاتوالي او ځانې تاوانونو له ګالو وروسته په دیر خجالت او سرټیټی سره مکې ته ستانه شول د دیرې کینې له امله یې خوک ویراوژړا ته نه پریښودل او په دې لټه کې شول چې څنګه په مسلمانانو یرغل وکړي او د بدر د غزا بدل ورڅخه واخلي په دې توګه یې د لښکرو په تولولو او د جنګی

سامانونو په برابرولو کې پیل وکړ او درې زره کسیز لښکر یې د مختلفو قبیلو څخه د ابوسفیان په مشرۍ برابر او مدینې منورې خواتو ته تګ لپاره تیار کړ .

څه وخت چې آنحضرت ﷺ د مشرکینو د دې قصد څخه خبر شو د اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره یې مشوره وکړه او وروسته له مشورې څخه له زړورتنو مسلمانانو سره د مدینې منورې څخه ووتل تر څو دښمن نه د باندې د مشرکینو د تیرۍ په مقابل کې جهاد وکړي مګر په لاره کې ۳۰۰ تنه د عبدالله بن اُبي د منافقت له مخې ورڅخه بیرته وګرځیدل اوله حضرت پیغمبر ﷺ سره ۷۰۰ تنه اصحاب کرام رضي الله عنهم پاتې شول ، کله چې د احد د غره لمنې ته ورسیدل آنحضرت ﷺ ۵۰ تنه غشي ویشتونکي

د احد د غره په یوه کنډوکي ځای پرځای کړل ترڅو
مشرکین د شالخوا پر مسلمانانو حمله ونکړي . د
هجرت دریم کال ووچې د احد د غره په لمنه کې د
مجاهدینو او مشرکینو ترمنځ جګړه پیل شوه د سختې
جګړې څخه وروسته د مشرکینو څخه زیات شمیر ووژل
شول او پاتې لښکریې ماتې وکړه او په شاوخوا کې په
دې وخت کې د هغه پښوس تنوغشي ویشتونکو
مسلمانانو څخه ځینې په دې ګمان چې جګړه ختمه شوه
خپل ځایونه خوشې کړل او مشرکینو د وخت څخه ګټه
واخیسته خپل مات لښکریې بیا راټول کړل او د هغه کنډو
څخه یې د شالخوا په مسلمانو مجاهدینو ناڅاپي حمله وکړه
ځکه نو د دوهم ځل لپاره بیا جګړه پیل شوه په دې ځل

جګړه کې د حضرت حمزهؓ په ګډون ۷۰، تنه مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل او د آنحضرت ﷺ مبارک غاښ هم پکې شهید شو.

په اسلام مینو مجاهدینو دیر مقاومت وکړ تر څو چې جګړه پای ته ورسیده او مشرکین په تیښته د جنګ له میدان څخه ووتل او د مکې په لور روان شول.

د احد په غزا کې مشرکینو هم زیات تلفات ولیدل او بیا په دې لټه کې شول چې څرنګه وکولی شي د مسلمانانو څخه خپل انتقام واخلي خکه یې د بدل تیري دپاره تیاری پیل کړ.

تمرین

۱ - د بدر غزا د هجرت په کوم کال کې پیښه شوه ؟

۲ - د بدر په غزا کې د مجاهدینو شمیر څومره وو ؟

۳ - د احد په غزا کې د مشرکینو شمیر څومره وو ؟

٤ - د احد غزا د هجرت په کوم کال کې پیښه شوه ؟

٥ - د احد غزا ولې په دې نامه یادیږي ؟

٦ - د احد په غزا کې ولې مسلمانو مجاهدینو زیات تلفات ولیدل ؟

۷ - د احد په غزا کې د مسلمانو مجاهدینو شمیر څومره وو ؟

د بني هاشم کورنۍ

د بني هاشم کورنۍ د کعبې شریفې خدمتګاران او متولیان وو، دوی حاجیانو او د کعبې زیارت کوونکو ته چې مکې معظمې ته راتلل، خواړه، اوبه او د استوګنې ځای برابراوه او د هغوی به یې ډیر عزت او درناوی کاوه.

د بني هاشم کورنۍ د کعبې شریفې له خدمت څخه پرته سوداګري هم کوله، سربیره پردې یې د خپلې قبیلې د بیرغدارۍ ویاړ یې هم په غاړه وو.

د بني امیه کورنۍ

د بني امیه کورنۍ د مکې معظمې د شتمنو خلکو څخه ګڼل کیده او په سوداګرۍ کې یې ډیر شهرت درلود

د خندق غزا

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ
إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا
لَمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ۝

ترجمه : (سورة الاحزاب ۹۰ آیت)

„ای هغوکسانو چې ایمان مو راوړی دی یاد کړی تاسې نعمت د الله ﷻ پرتاسې کله چې (په غزوه د احزاب کې) راغللی تاسې ته لښکرې (د کفارو) پس را ولیږه مو پرډوی باد (د ناهیل) او داسی فوځونه چې د کفارو په زړونکې به یې رعب اوویره غورځوله او دی الله ﷻ پر هغو (کارو) چې کوی یې تاسې ښه لیدونکې ۰»

په مدینه منوره کې اوسیدونکو یهودانو هم
د مسلمانانو سره سخته کینه ساتله اوځرنګه چې په
یوازې ډول یې نشوکولی د مسلمانانو سره مقابله وکړي
ځکه یې نوځوتنه مکې معظمې ته ولیږل ترڅو قریش او
نورې قبیلې د ځانه سره یوځای کړي ترڅو په ګډه د
مسلمانانو سره وجنګیږي .

قریش اونورمشرکین چې دهمدې وخت په
ارمان ووسمدستي یې داخبره ومنله . یولوی
لښکر یې د مختلفو قبیلواوقومونوڅخه برابرکړ او د
ابوسفیان په مشرۍ یې مدینې منورې په لور د
تللو دپاره چمتوکړ ، څه وخت چې آنحضرت ص. د
مشرکینو اویهودیانو د دې ناوړه قصد څخه خبر

شول د اصحابو کرام رضي الله عنهم سره یې مشوره وکړه او د سلمان فارسي رضي الله عنه د نظر په اساس یې د مدینې منورې د ښار په شاوخوا کې یو ژور خندق وکینده ترڅو مسلمانان د مشرکینو د ناڅاپي حملې څخه په امان کې پاتې شي .

د هجرت په پنځم کال د مشرکینو لښکر د یهودیانو په ګډون چې شمیر یې له ۲۴۰۰۰ تنو څخه زیات و د مدینې منورې ښار محاصره کړ اما د خندق څخه یې د تیریدو توان نه درلود ځکه چې مسلمانانو په کلکه د ځان څخه دفاع کوله او په دې توګه د یوې میاشتې په موده کې مشرکینو نه شوکولی چې د مدینې منورې ښارته ورننوځي د همدې مودې د تیریدو څخه وروسته یوه شپه داسې

سخت طوفاني باد راغې چې د مشرکينو خيمې اوديګونه
يې چپه کړل اوپه زړونوکې يې ورته داسې ويره پيدا
کړه چې په همغه شپه يې د محاصرې څخه لاس واخيست
اوبې له کومې نتيجې څخه هرې خواته خواره شول او
الله ﷻ پخپل فضل اونصرت سره يوځل بيا مسلمانان
مجاهدين برياليتوب اوفاتح کړل د (قرآن کريم پورتنۍ
مبارک آيت د همدې واقعې په هکله دی)

مسلمانان دې غزاته د خندق د کيندلو له امله
د خندق غزا وايي اوځينې ورته د مختلفو قبيلو
اوقومونو د يوځای والي له امله د احزابو غزا هم
وايي .

تمرین

۱ ـ دخندق غزا د هجرت په کوم کال کې پیښه شوه؟

۲ ـ دخندق دغزا د پیښیدو علت څه وو ؟

۳ ـ دخندق غزاولی دخندق اویا د احزابو دغزا په نومونو یادیږي ؟

۴ ـ دخندق په غزاکې فتحه اوبری دچا په نصیب شو ؟

دملګې معظمې فتحه

دحدیبیې ترون

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝۱

ترجمه : سورة الفتح .

« بیشکه موږ فتح اوبری درکړې دی تاته فتح اوبری ظاهره اوښکاره »

د هجرت په شپږم کال آنحضرت ﷺ دیوشمیر اصحابو
کرامو رضی الله عنهم سره د مکې معظمې په لور روان شو او غوښتل
یې چې عمره ادا کړي څه وخت چې مکې ته نژدې د حدیبیې
مقام ته ورسیدل د مشرکینو څخه څوتنه ورغلل او هغوی
ته یې مکې معظمې ته د داخلیدو اجازه ورنکړه او په
همدې ځای کې یې د مسلمانانو سره د جنګ دنکولو
یو ترون لاسلیک کړچې د حدیبیې د ترون په نامه
یادیږي .

مشرکین په دې ترون وفادار پاتې نه شول او
تل به یې نورې قبیلې او قومونه د مسلمانانو په ضد
پارول څرنګه چې آنحضرت ﷺ ولیدل چې د مکې مشرکین
په کاره نه کیني او نه د مسلمانانو د سبمنۍ څخه لاس

اخلي نوخکه يې د هجرت په اتم کال د مکې د فتحې نيت
وکړاود لس زره مجاهد و مسلمانانو سره د مکې معظمې
په لور وخوځيدل ، څه وخت چې مکې ته نژدې شول
قريش او نور مشرکين د مسلمانانو د دې قوت څخه
وويريدل ، ځنې مشران يې لکه ابوسفيان او داسې
نور د حضرت رسول اکرمﷺ حضور ته راغلل او په اسلام
مشرف شول او ځنې يې د مکې معظمې د سنبار څخه
ووتل او د سنبار شاوخوا غرونو ته لاړل .
په دې توګه آنحضرتﷺ او ورسره مسلمانان بې له کومې
جګړې او مقاومت څخه د مکې معظمې سنبار ته ورننوتل
او په حرم شريف کې يې د کعبې د خونې ټول بتان مات
کړل ، د الله ﷻ شکر يې ادا کړاو بيا يې د مکې خلکو ته

وفرمایل :

"تاسې څه فکر کوی چې زه به تاسې سره څه وکړم؟"

خلکو په ځواب کې وویل :

"ته زمونږ د یر شریف ورور او وراره یې ."

آنحضرتؐ وفرمایل :

"لاړشی تاسې آزاد یاستی ."

د هجرت اتم کال وو چې مکه مکرمه فتحه شوه او الله جل جلاله خپله وعده ترسره کړه .

د مکې خلک په اسلام مشرف شول او د بتانو او باطل پرستې ریښې له منځه لاړې .

د نړۍ پاچاهان اسلام ته رابلل

اُدْعُ اِلٰی سَبِیْلِ رَبِّکَ بِالْحِکْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ
الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ

ترجمه: (سورة النحل)

"بلنه کوه (ای محمده ﷺ! خلکو ته، لاری د ربّ خپل ته (چې توحید او اسلام دی)، په حکمت (محکمې خبرې)، او په موعظه (پند)، نیک سره (په ښه ډول)، او مباحثه کوه له دوی سره په هغې (طریقې) چې هغه ډیره ښه وي"

د هجرت د شپږم کال په وروستیو ورځو کې آنحضرت ﷺ د خپلو هیوادونو لکه روم، مصر، ایران

یمن ، حبشی او شام پاچاهانو او حاکمانو ته د اسلام
د بلنې لیکونه او پیغامونه ولیږل او هغوی یې اسلام
ته دعوت کړل ځینو پاچاهانو سره د دې چې
سنکاره یې اسلام را نه وړې مګر د آنحضرت ﷺ آستاني
یې په ډیر عزت او احترام رخصت کړل ، یوازې د
ایران پاچا[1] د پیغام او استازی بې عزتي وکړه چې
دخپل ناوړه عمل په سزا ورسید .

د دغه پیغامونو نتیجې وروسته سنکاره شوې
کلرچې د خلفای راشدین په وخت کې د همدغه هیوادونو
خلک د اسلام په مقدس دین مشرف شول او د
اسلام رڼا په همدې ځایونو کې خپره شوه .

(۱) خسرو پرویز ډیر ژر دخپل زوی له لاسه په ډیره ناوړه توګه ووژل شو.

تجارتي کاروانونه به يې ديمن . شام . مصر ، حبشي اوعراق
ترمنځ تګ راتګ کاوه چې دهمدې لارې څخه زيات
شتمن شوي وو .



حجة الوداع

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ
نِعْمَتِي وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ط

ترجمه: (٦ پاره، المائدة

"نن ورځ مکمل (پوره) کړمې تاسې ته دین ستاسې او تمام (پوره) مې کړپرتاسې (ای مومنانو!) نعمت خپل د (دین په اکمال) اوغوره کړمې تاسې ته اسلام لدجهت د دین (د پاکیزه په قبلوا دیانو کې)"

رسول اکرمؐ د هجرت په لسم کال د یوزیات شمیر اصحابو کرامو سره دج د فریضې د ادا کولو په نیت د مکې معظمې په لور روان شول کله چې

هلته ورسيدل دلوی اختر دمياشتې ذوالحجې په
نهمه ورځ يې دعرفات په ميدان کې يوه تاريخي خطبه
مسلمانوته واوروله چې د يوې خوايې ديني احکام
خلکوته بيان کړل او دبلې خوايې د يو اسلامي
خلافت اساسي تګ لاره (منشور) مسلمانانوته
وسنود لرچې په لاندې ډول ده :

„ای مسلمانانو! ټول خلک دحقوقو اووظايفو
له مخې يو له بل سره مساوي دي . يوحبشي مريې
د يو شريف اصيل قريشي سره هيڅ توپير نه لري
ځکه خدای موږ ټول د آدم عليه السلام
څخه پيدا شوي ياستی او آدم عليه الاسلام دخاورې
څخه پيدا دي . ستاسو څخه هغه څوک خدای ته نژدې

دي چې پرهيزګاره او متقي وي ، هيڅ يوعرب په
غيرعرب د عجم ، پرته له تقوا څخه کوم امتياز نه لري.»

داسې نور احکام يې هم مسلمانانو د الله اکبر
داسې نارې پورته کړې چې دمکې په غرونو کې
يې انګازې خپرې شوې ، له هغه ځايه چې د آنحضرتؐ
وروستۍ ج ووځکه نو ورته حجة الوداع وايي .

د رسول اکرمؐ رحلت

څه وخت چې حضرت محمدؐ د حجة الوداع څخه
مدينې منورې ته راستون شو د قرآن کريم وروستي
مبارک آيت نازل او د اسلام دمقدس دين احکام
مکمل شول . لږې ورځې وروسته آنحضرت ص ته

ناروغي پيدا شوه د ناروغۍ په حالت کې يې هم
مسلمانانو ته د وجدت ، وروري ، پاکوالي اوسنه
سلوک په برخه کې لازم وصيتونه وکړل اوهغوي ته
يې وفرمايل چې « تاسو ته مې قرآن کريم اونبوی
سنت پريښودل که موپرې عمل وکړ دتل لپاره به
بريالي ياستئ »

د څو ورځو ناروغۍ څخه وروسته د ۶۳ کلونو
په عمر د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول د مياشتې
په دولسمه نيټه چې د هجرت يو ولسم کال وو د خدائ
د رحمت سره يوځای شو او د دې دنيا څخه يې د سنبلې
اوابدي ژوند په لور رحلت وکړ.

إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

او دبی بی عایشیؓ په حجره کې په ډیرعزت او اکرام سره خاورو ته وسپارل شو .

هرکال ټول حاجیان دج د فریضې د ادا کولو نه وروسته د حضرت محمدؐ د مبارکې روضې د زیارت کولو لپاره د مدینې منورې ښار ته ورځي .

آنحضرتؐ د رسالت په ۲۳ کلنه موده کې د اسلام پاک دین د بلنې او خپریدو په لار کې ډیر زیات تکلیفونه وګالل او خپله د پیغمبرۍ مقدسه اوستره وظیفه یې په ډیر زغم ، لوړ سیرت ، متانت او صداقت سره سرته ورسوله .

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

تمرین

۱ - مکه معظمه په کوم کال کې فتحه شوه ؟

۲ - آنحضرتؐ دکومو هیوادونو پاچاهانو اوحاکمانو ته د اسلام دبلنې پیغامونه ولیږل ؟

۳ - د آنحضرتؐ وروستی حج په کوم نوم یادیږي ؟

٤ - آنحضرت په حجة الوداع کې کومه تاریخي خطبه فرمایلې ده ؟

۵ - د نبي کریمؐ مبارکه روضه په کوم ځای کې ده ؟

٦ - رسول اکرمؐ په کومه میاشت کې له دې فاني دنیا څخه رحلت وکړ ؟

۷ - حضرت محمدؐ دخپلې نارونې په وخت کې مسلمانانو ته کوم وصیتونه وکړل ؟

څلورم فصل

خلفای راشدین

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُم وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ
(النور ۵۵ آیة)

ترجمه: وعده کړیده الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې
راوړي دي له تاسې او کړي یې دي ښه عملونه، چې
قسم دی خامخا به خلیفه ګان کړي د الله، دوی په ځمکه کې،

آنحضرت ﷺ د يوې خوا د اسلام بلنه او مسلمانانو ته
د ديني احکامو سبوونه کوله خو بلې خوا يې د معاملاتو
او دنيوي چارو د سمون په برخه کې هم د قرآن کريم او
د خداى ﷻ د احکامو او د اصحابو کرامو ؓ سره د مشورې
په رڼا کې سترې دنده په غاړه لرله .

له دې کبله د آنحضرت ﷺ د رحلت څخه وروسته د
هغه د جانشينۍ (خلافت) د پاره د اسې اشخاص په
کار ووچې د مسلمانانو اخروي او دنيوي چارې د قرآن کريم
او نبوي سنت له مخې پرمخ بوزي .

دنيکه مرغه د رسول اکرم ﷺ د رحلت څخه وروسته
د هغه مبارک ﷺ څلور ټنو صالحو، رښتينو او مجاهدو يارانو
په ۳۰، کلنه موده کې د هغه د خلافت او امامت مقدسه

او درنه وظیفه په پوره صداقت او عدالت سره د الهي
وعدې سره سم سرته ورسوله چې د اسلام په تاریخ
کې دغه دیرش کلنه موده په ریښتیا سره د اسلامي
عدالت روښانه دوره ده چې د صدر اسلام په نوم
یادیږي .

نومورو خلورو تنو ریښتینو مسلمانانو ته چې د
آنحضرتؐ څخه وروسته یې د خلافت او امامت
مسئولیت په غاړه اخیستې وو او په تولو چارو کې
یې د آنحضرتؐ لاره تعقیب کړیده ، خلفای راشدین
ویل کیږي .

. . .

لومړی خلیفه

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه

عَنْ اَنَسْ بِنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْحَمُ اُمَّتِيْ بِاُمَّتِيْ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ (رواه الترمذی)

ترجمه: د حضرت انس د مالک له خوی څخه روایت دی وایي دي چې فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه والهٖ وسلم چې ډیر مهربان او مشفق دامت زما په امت زما ابوبکر رضی الله تعالی عنه دی. «روایت د ترمذی دی»

د حضرت ابوبکر صدیق رض اصلی نوم عبدالله چې د قحافه زوی دی او د فیل کال څخه دوه کاله وروسته د مکې معظمې د ښار په یوه عزتمنه او شتمنه کورنۍ

تمـــرين

۱ - کعبهٔ شریفه (بیت الله) په کوم ښار کې واقع ده ؟

۲ - د مکې معظمې اوسیدونکي څوک وو ؟

۳ - د بني هاشم کورنۍ په کعبهٔ شریفه کې څه دنده درلوده ؟

٤ - د بني امیه کورنۍ په کوم شغل کې شهرت درلوده ؟

مدینه منوّره

مدینهٔ منوّره د عربستان یو مشهور اولوی ښار دی چې د مکې معظمې شمال خواته پروت او د اوبو د شتوالي له کبله خرم او آباد دی او د ډول ډول خرما پکې پیدا کیږي .

کی زیږیدلې دی ، نسب یې په شپږم نیکه[1] کې د آنحضرت ﷺ سره یوځای کیږي . د کوچنۍ والې څخه یې د آنحضرت ﷺ سره مینه لرله . په نسب پوهنه کې ډیر مشهور وو . کله چې رسول اکرم ﷺ په نبوت مبعوث شو دې په لومړیو کې لومړی شخص وو چې له دلیل غوښتنې څخه پرته سمدستي په اسلام مشرف شو .

د آنحضرت ﷺ د هرې خبرې تصدیق بې کاوه له همدې کبله د آنحضرت ﷺ له خوا ورته د صدیق لقب ورکړ شو .

۱، د حضرت ابوبکر صدیق رض شپږم نیکه مُرّه نومیده چې دوه زامن یې لرل، یو کلاب چې آنحضرت ﷺ د هغه له اولادې څخه دی او بل تیم چې حضرت ابوبکر صدیق رض ، د هغه له اولادې څخه دی .

دحضرت ابوبکر صدیق (رض) خلافت

وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْبَغِيْ لِقَوْمٍ فِيْهِمْ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنْ يَّؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ

"ترمذی"

دحدیث ترجمه : روایت دی د بی بی عایشی رض نه ویلی دي چي فرمایلي دي حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم : نه مناسبیږي هیڅ قوم سره چي په دوی کې ابوبکر رض موجود وي چي امامت به کوي د دغه قوم بیله ده نه بل څوک . " روایت ترمذی کې دي "

دحضرت محمد ﷺ لرحلت څخه وروسته انصار او مهاجرین دبني ساعده په سقیفه نومې ځای کې سره راټول شول ترڅو د مسلمانانو دچارو د تنظیم اوسمون لپاره سنه لایق شخص خلیفه

او امام وتاکي . لږ ولړ مشوره وشخه وروسته يې
حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دې سبب چې د هجرت په
وخت کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سفر ملګری وو او د
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دنا روغتیا په وخت کې يې د هغه مبارک
پرځای امامت کړې وو د مسلمانانو له خوا د خلافت
مستحق وګڼل شو. په دې توګه د ربیع الاول په
میاشت د هجرت په یوولسم کال حضرت ابوبکر رضی الله عنه
د خلافت او امامت سترې دندې په غاړه واخیستې
او ټولو مهاجرو او انصارو د حضرت عمر رضی الله عنه، حضرت
عثمان رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه په ګډون ورته د زړه له کومې
بیعت ورکړ.

د حضرت ابوبکر صدیق رض
د خلافت لومړنی خطبه

کله چې حضرت ابوبکر صدیق رض خلیفه شو مسلمانانو ته یې یوه تاریخي خطبه واوروله چې په لاندې ډول ده:

"ای مسلمانانو! ستاسو د کار رونو سرپرستي زما په غاړه شوه او زه په خلافت وټاکل شوم، سره له دې چې زه له تاسو څخه لوړ او سبنه نه یم، که نیکي مې وکړه راسره مرسته وکړې او که له سمې لارې واوښتم لارښوونه راته وکړې، رښتیا امانت دی او درواغ خیانت ستاسې هرکمزورې ما ته قوي دی تر څو د هغه حق ورته ورسټوم، او ستاسې هره قوي زما په نزد کمزورې دی

ترڅو د مظلوم حق ورنه واخلم . "

هر قوم چې د خدائ ﷻ دلیاری په جهاد کې برخه اخیستی نه وي الله ﷻ هغه قوم خوار او زبون ګرځوي .

او په هر قوم کې چې بدکاري رواج وموند هغه قوم په عامه بلا اخته شو ترڅو پورې چې زه د خدائ ﷻ او د هغه رسول ﷺ اطاعت کوم زما اطاعت په تا ئے واجب دی ، لمونځ کړی چې د خدائ ﷻ د رحمت وړ وګرځې .

تمرین

۱ - څلور خلیفه ګان ولی د خلفای راشدین په نامه یادیږي ؟

۲ - د لومړی خلیفه اصلی نوم څه و او پلار یې څه نومیده ؟

۳ - ابوبکر صدیق ﷺ څنګه خلیفه شو ؟

٤ - د حضرت صدیق ﷺ لومړنۍ خطبه بیان کړئ ؟ -

د فارس او روم دولتونو ته یوه کتنه

د اسلام د مقدس دین د ظهور په وخت کې د عربستان شاوخوا سیمې د دوو ستر و دولتونو او امپراطورۍ و، روم او فارس، لخوا اداره کیدې وې کوښښ کاوه تر څو د اسلام د مقدس دین د خپریدو مخنه ونیسي.

د روم د امپراطورۍ مرکز چې په ترکیه، شام او د مصر په شاوخوا سیمو کې خپره وه د قسطنطنیې ښار و و.

د فارس امپراطور د روم امپراطور په شان لوی سیمې لکه ایران (فارس)، عراق او خراسان تر اداري لاندې درلودې.

دې دواړو دولتونو دقدرت دلاس ته راوړلو لپاره
تل یوبل باندې حملې کولې .

پخوا دحضرت محمدﷺ له خوا د نومورو دولتونو
د پاچاهانو په نامه اسلام ته دبلنې پیغامونه لیږل
شوی وو، لومړی خلیفه ﷺ همدغه لاره ونیوله او د
اسلام بلنه ته یې دوام ورکړ.

د نومورو دولتونو څینې ځایونه د
حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالیٰ عنه
دخلافت په وخت کې او زیاتره ځایونه
د دوهم او دریم خلیفه دخلافت په وختونو
کې په اسلام مشرف شول .

د لومړي خليفه ؓ فتوحات

د شام فتح :

د حجاز (سعودي عربستان) ټولې شمالي سيمې د شام په نامه يادېدې چې له اوسنۍ سوريې، اردن لبنان او فلسطين څخه عبارت دي، شام ډېره آباده اوسمسوره سيمه وه چې له هرې خوا څخه به هلته د سوداګرۍ کاروانونه ورتلل .

دا سيمه د رومیانو په لاس کې وه او عيسوي دين پکې رواج درلود .

څه وخت چې آنحضرت ؐ د حجة الوداع څخه راستون شو د مسلمانانو څخه يې يو لښکر د اسامه بن زيد ؓ په مشرۍ د شام ته د ټيرې لپاره تيار کړ ترڅو د رومیانو

د تيري مخه ونيسي او د اسلام د پاک دين دخپريدو
لپاره لاره هواره کړي اما د مجاهدينو د تګ په وخت
کې د حضرت محمّدؐ د رحلت درد ناکه پيښه منځ ته
راغله ځکه نو د مجاهدينو په تلوکې ځنډ پيښ شو.

کله چې ابوبکر صديقؓ په خلافت وټاکل شو
همدغه لښکر يې د اسامه بن زيدؓ په مشرۍ دشام
اوسيدونکوته د اسلام د مقدس دين بلنه ورکړه.
ځرنګه چې هغوی دا بلنه ونه منله ځکه نو مجاهدينو
ورسره جهاد پيل کړ، د ايماني قوت په رنا کې فتحه
د مسلمانو مجاهدينو په برخه شوه. د يرغايونه يې
فتحه شول او اسلامي احکام پکې جاري شول او
مجاهدين مدينې منورې ته بريالي را وګرځيدل.

د هجرت په دیارلسم کال حضرت ابوبکر صدیقؓ
د ابوعبیده بن جراحؓ په مشری د اسلامی مجاهدینو
څلورلښکري د شام په لورولیږلې وروسته بیا
خالد بن ولیدؓ لې هم د هغوی د مرستې لپاره
هغې خواته ولیږه .

د اسلامي مجاهدینو او رومیانو ترمنځ
دیرموک د سیند پرغاړه سخت جګړه ونښته .

په اسلام مینو مجاهدینو په ټینګې عقیدې
کلک ایمان او د خدای ج. په مرسته د رومیانو
په لوی اوقوي لښکر داسې بری ومونده چې د
شام زیاتره سیمه رونه یې فتح کړل ځکه نو د فتح د اسلام
په پرمختګ اوخپریدلوکې لوړګام بلل کیږي .

د هجرت څخه د مخه د مدینې منوری نوم یثرب وو چې د یهودو څخه پرته دوه ستر قبیلې پکې اوسیدې چې یوه یې د اوس اوبلدې د خزرج په نامه یادیدله .

عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رض، قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُوْلُ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى سَمَّى الْمَدِيْنَةَ طَابَةً . (رواه مسلم شریف)

- روایت دی د جابر بن سمرة رض څخه چې : « اوریدلی می دي له رسول الله ص څخه چې فرمایلي : بیشکه چې خدای جل جلاله نوم ایښي دي په مدینې باندې ، طابه (پاکه) . »

- په یثرب کې یهودو درې قبیلې وې چې دبني نضیر بني قریظه او بني قینقاع په نامه یادیدلې .

دعراق فتحه :

عراق دآسیا په لویه وچه کې پروت اویو لرغونې هیواد دی چې پخوا د بین النهرین په نوم یادیده او د اسلام د ظهور په وخت کې د فارسیانو ترادارې لاندې وو.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د اسلام د پاک دین د خپریدو دپاره خلور زره تنه مجاهدین د خالد بن ولید رضی الله عنه په مشرۍ دعراق خواته ولیږل دعراق اوسید ونکي د اسلام د منلو په ځای د جنګ او مقابلې دپاره راپورته شول د شدید جنګ څخه وروسته مجاهدینو د لوی خدای ج په مرسته او د کلک ایمان په لرلو د عراق جنوبي سیمې فتحه کړې په دې دول د فارسی دولت نور و برخوته د اسلام د

خپرید ولپاړه لاړه خلاصه شوه .

تمرین

۱ - د اسلام د ظهور په وخت کې د عربستان په شاوخوا کې کومې امپراطورۍ موجودې وې ؟

۲ - د لومړۍ خلیفه په وخت کې په عراق کې چا حکومت کاوه ؟

۳ - د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت په وخت کې شام د چا په لاس کې وو ؟

٤ - لومړۍ خلیفه رضی الله عنه اسلامي مجاهدین د چا په مشرۍ عراق ته ولیږل ؟

٥ - عراق په کومه وچه کې پروت دی او د چا په کوم نوم یادیږي ؟

٦ - د یرموک په جګړه کې د مجاهدینو قوماندان څوک وو ؟

د مرتدانو او د نبوت د دروغجنو مدعیانو په مقابل کی جهاد

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ
دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِى اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ
وَيُحِبُّوْنَهٗٓ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى
الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ
لَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ
يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝

ترجمه : سورة المائده ع۶ پاره

ای هغوکسانو چی ایمان مو راوړی دی ، هرڅوک چی مرتد شو (وګرځیدو)
دتاسی نه له دین څخه نو عنقریب به راولی الله تاسی یو قوم چی محبت
کوی الله له هغوی سره او محبت کوی دوی له الله سره متواضع او مهربان

به وی پر مؤمنانو غالب زبردست به وی په کافرانو باندې ، جهاد سه کوې دوی په لاره د الله ﷻ کې . لپاره د ترقی دین ، اونه به ویریږي دوی له ملامتیا د هیڅ ملامت کوونکي یا دا ، مذکور صفات ، فضل د الله ج: ورکوي یې هغه چاته چې اراده وکړي او الله ﷻ پراخ دی (فضل ، رحمت احسان دده) ښه عالم (خبردار په ټولو احوالو)

د حضرت محمد ﷺ د وفات سره سم د عربو څینو قبیلو د اسلامی احکامو څخه مخ واړاوه مرتدان شول او د دول دول مخالفتونه یې پیل کړل څینې د نبوت دروغجن مدعیان هم را پورته شول او په دروغو سره یې د پیغمبرۍ دعوی وکړی او څینې خلک یې په ځان را ټول کړل .

حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخپل خلافت
په وخت کې د دغه مرتدانو او درواغجنو
مدعیانو له مینځه وړلو دپاره دجهاد اعلان
وکړ. مسلمانان په اسلامي جذبې او
جوش سره دغه جهاد ته چمتو شول او د یو
کال په موده کې یې ټول مرتدان او دنبوت
درواغجن مدعیان د هغوی له پیروانو سره
یوځای له مینځه یوړل او په اسلامی خلافت کې
یې اسلامي احکام په پوره دول جاري او عملي کړل.

(۱) سنورنکی صاحب دې د مرتد مفهوم شاګردانو ته په ساده الفاظو سره واضح کړي.
(۲) د نبوت درواغجن مدعیان عبارت وو د مسیلمه کذاب، اسود عنسي
طلیحه او سجاح نوم یې ښځې ځنې.

د لومړي خليفه رض کارنامې

سره د دې چې د ابوبکر صديق رض د خلافت موده لنډه وه خو بيا هم د دوی خدمتونه د اسلام د مقدس دين د خپرولو په لاره کې د ستاينې وړ دي . دوی په دې لاره کې ډير تکليفونه وګالل چې څو مثالونه يې په لاندې ډول بيانوو :

د آنحضرت ص تکفين او تجهيز په ډيره عزت سره د حضرت ابوبکر صديق رض د خلافت لومړنۍ سره کارنامه وه .

د لومړي خليفه رض په وخت کې ځينو قبيلو د زکوة ورکولو څخه ډډه وکړه او ځينې يې مرتدان شول چې په پرله پسې تدبير سره ، هغوی اسلامي احکامو ته

متوجه کړل اوحُیني يې دخپلونا ورې عملونو په سزا ورسول .

د يمامې په جنګ کې زيات شمير هغه اصحاب کرامؓ چې د قرآن کريم قاريان وو، شهيدان شول، له دې املنه حضرت ابوبکر صديقؓ په مشوره د قرآنکريم هغه سورتونه اوآيتونه چې په جلاجلا پانوکې ليکل شوي وو په صحيفوکې راټول کړل .

د لومړي خليفهؓ په وخت کې د عراق اوشام ملکونو ته داسلام د مقدس دين دخپريد ولارې خلاصه شوه .

د حضرت ابوبکر صديقؓ په وخت کې د نبوت درواغجن مدعيان اود هغوی پيروان ټول له منځه لاړل.

حضرت ابوبکر صدیق رض د مسلمانانو د خلیفه او امام په توګه خپل ټول کارونه د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې او د اصحابو کرامو رض په مشوره سرته رسول .

د حضرت ابوبکر صدیق رض سیرت او اخلاق

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ۝ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ۝ "اللیل"

ترجمه :

او ژر ته چې ګوښنه به شي له هغه اوره ښه ویریدونکی مومن ، هغه چې ورکوي مال خپل لپاره د دې چې پاک شي .

حضرت ابوبکر صدیق رض د یر حلیم او د پوره حوصلې

خاوند وو . دقریشو په منځ کې یې پوهې اوتقوا املـه
درناوی کیده . داسلام د مقدس دین د ظهور څخـه
دمخه یې هم هیڅکله شراب اوبت پرستی کړې نه وو .
په لویانوکې لومړی شخص ووچې په اسلام مشرف شو .
خپله ټوله شتمني یې د اسلام دمبارک دین په لاره
کې خرڅ کړه . د هجرت په وخت کې د آنحضرت ﷺ دملګرتیا
افتخار د دوی په برخه شو اوپه ټولو غزاګانوکې د
آنحضرت سره یوځای وو . د قرآن کریم ځینې آیتونه
اونبوی احادیث هم د ده د فضیلت تایید کوي .

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات

څه وخت چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ناروغتیا پیښه

شوه د اصحابو کرامؓو نسره یې دخپل جانشین د تاکلو
په هکله مشوره وکړه ترڅو د مسلمانانو د چارو سرپرستي
داسې یوچاته وسپاري چې د دې درنې دندې د سر
ته رسولو توان ولري .

تولو اصحابو کرامؓو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه
د دې درنې او مقدسې وظیفې د پاره انتخاب کړ .

• کله چې حضرت ابوبکر صدیقؓ په دې هکله د
مسلمانانو موافقه حاصله کړه یو فرمان یې ولیکه ترڅو
د دوی د وفات څخه وروسته مسلمانانو ته ولوستل شي.
څو ورځې وروسته د ټولو مړي خلیفهؓ نا روغتیا سخته
شوه او د څلورمې خور (جمادی الآخر) په میاشت کې
چې د هجرت دیارلسم کال و د دوو کالو او دری میاشتو

خو کلـه چې د دې قبیلو خلک د اسلام په مقدس دین مشرف شول ، ټولې دښمنۍ او د پیړیو کینې یې په وروړی بدلې شوې .

څه وخت چې حضرت محمدﷺ د مکې معظمې څخه یثرب ته هجرت وکړ د نومورې ښار نوم په مدینه منوره بدل شو .



خلافت او امامت څخه وروسته د ۶۳ کلونو په عمر له
دې فاني دنيا څخه دابدي ژوند په لور رحلت وکړ.

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ

او په مقدسه روضه کې د آنحضرت ﷺ د مبارک مرقد تر
څنګ خاورو ته وسپارل شو.

تمرين

۱ - لومړی خليفه رض د مرتدانو او د نبوت د دروغجنو مدعيانو په مقابل کې څه کړل ؟

۲ - د حضرت ابوبکر صديق رض کارنامې بيان کړئ ؟

۳ - د لومړی خليفه رض سيرت او اخلاق روايت ؟

٤ - حضرت ابوبکر صديق رض څو کاله او څو مياشتې خلافت وکړ ؟

۵ - لومړی خليفه رض د هجرت په کوم کال رحلت وکړ او چيرته خاورو ته وسپارل شو ؟

دوهم خليفه

حضرت عمر فاروق رضي الله تعالى عنه

عَنْ عَلِيٍّ رض ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ قَالَ خَيْرُ الْاُمَّةِ
بَعْدَ نَبِيِّهَا اَبُوْبَكْرٍ رض ثُمَّ عُمَرُ رض

ترجمه: بخاري قول علي رض

د علي، خوی د ابي طالب څخه روايت دی چې بهتر د دې امت د حضرت پيغمبر څخه وروسته ابوبکر رض دی، او وروسته له هغه څخه عمر رض، دی.. صحيح البخاری.

اصل نوم يې عمر، لقب يې فاروق او پلار نوم يې خطاب دی. د فيل کال څخه دوولس کاله وروسته د هغې معظمې د سنا رد قريشو په يوه عزتمنه کورنۍ کې زيږيدلی دی.

د نسب سلسله يې په اتم نيکه کې د آنحضرت سره

یوځای کیږي . له اسلام راوړلو څخه د مخه یې هم د
قریشو په منځ کې د خپل شجاعت او پوهې له امله شهرت
درلود او زیات وختونه به یې د خپلو پلرونو په شان له
مکې څخه د باندې د نورو قبیلو سره په خبرو کې له قریشو
څخه نمایندګي کوله .

حضرت عمرؓ د بعثت په شپږم کال په اسلام مشرف
شو . خپل اسلام یې په سنکاره ډول اعلان کړ او په ډې
ډول یې مشرکین د سختې ویرې سره مخامخ کړل .

۱، د حضرت عمرؓ، اتم نیکه کعب نومیده . کعب دوه زامن
درلودل چې یوې مرّة نومیده او آنحضرت ص . دهغه له اولادې
څخه دی اوبل یې عدي نومیده چې حضرت عمر فاروقؓ دهغه له اولاد څخه دی.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خلافت

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ لَا اَدْرِيْ مَا بَقَائِيْ فِيْكُمْ فَاقْتَدُوْا بِالَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِيْ اَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ

ترجمه: "ترمذی"

روایت دی د حذیفه رض نه، ویلی دي چې فرمایلي دي حضرت محمد ﷺ زه نه پوهیږم چې څومره به وي پاتې کیدل زما په تاسې کې نو اقتدا کوی. دهغو دوه تنو پسې چې پس له ما نه به وي چې ابوبکر رض او عمر رض دي.

څرنګه چې مو ولوستل حضرت ابوبکر صدیق رض د خپل ژوند په وروستي وخت کې د اصحابو کرامو سره د مشورې څخه وروسته د حضرت عمر فاروق رض د خلافت

په هکله یو فرمان ولیکه اوهم یې دنارونې په حال کې یې مسلمانانو ته په یوه خطبه کې داسې وفرمایل :

« ای مسلمانانو وروڼو! زما د خپلو خپلوانو څخه خلیفه تاکلې نه دی بلکه حضرت عمرؓ می د اصحابو کرامؓو په مشوره او رایه د خلافت دپاره وټاکه. آیا تاسې ټول موافقه لرئ؟»

ټولو حاضرینو وویل : هو! مونږ ستاسې وینا واوریده او د هغې اطاعت کوو.

په دې ډول د حضرت ابوبکر صدیقؓ د رحلت څخه وروسته حضرت عمر فاروقؓ د هجرت په دیارلسم کال د خلافت او امامت سترې اومقدسې وظیفې په غاړه واخیسته .

د دوهم خلیفه فتوحات

هُوَ الَّذِیْ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی
وَدِیْنِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهٗ عَلَی الدِّیْنِ کُلِّهٖ
وَلَوْ کَرِهَ الْمُشْرِکُوْنَ ۝

ترجمه : دالصف سورة (۲۸) پاره

دغه (الله) هغه (ذات) دی چې رالیږلی یې دی رسول خپل محمدﷺ په هدایت سره او صافه لیاره ددې چې غلبه ورکړي (الله) دغه «حق دین» ته پردینو ټولو باندې اګرکه بده ګڼي (دغه غلبه) مشرکان.

د دوهم خلیفه رضی الله تعالیٰ عنه دخلافت په وخت کې مسلمانانو ډیرزیات فتوحات وکړل او د اسلام مقدس دین دفارس او روم دلویو دولتونو زیاتو برخوته ورسید او د الله ﷻ رسنتیني وعدې او د آنحضرت ﷺ،

پیش ګوئي د ایران او روم د فتحو د پاره د ده په وخت
کې عملي بڼه غوره کړه چې په لاندې ډول بیانیږي .

عراق :

لکه چې مخکې هم ولوستل شو د عراق جنوبي
برخې د لومړي خلیفه په وخت کې د مسلمانانو په لاس
فتحه شوې او اسلام په کې خپور شو اما د دوهم خلیفه
په وخت کې ټول عراق د مسلمانانو له خوا د اسلامي
خلافت پورې وتړل شو مخصوصاً هغه وخت چې
د فارس قوي دولت ورځ په ورځ د مسلمانانو په مقابل
کې کمزورې کیده او د مسلمانانو د فتوحاتو او د اسلام
د مقدس دین د خپریدو لپاره لاپسې لاره خلاصیده.

د قادسيې فتحه :

فارسيانو خپل زيات قوت او فوځونه د مسلمانانو د مقابلې لپاره په عراق کې ځای پر ځای کړل په دې وخت کې حضرت عمرؓ د غازيانو يو لښکر د سعد بن وقاصؓ په مشرۍ عراق ته ولېږه .

اسلامي لښکر د فارسي فوځونو سره چې مشر يې رستم پهلوان وو په قادسيې نومې ځای کې مخامخ شول د دې وړې سختې جګړې څخه وروسته رستم د فارسي فوځونو سر لښکر د يو مسلمان مجاهد په لاس ووژل شو او فوځ يې چې په هرڅه پوره اوښميرلې هم د مسلمانانو څخه ډېر زيات وو د مؤمنو او رښتينو مسلمانانو په مقابل کې مقاومت ونه شو کړای ځکه ټوماتې يې وخوړه او

وتښتيدل اودخداى ﷻ په نصرت اومرستې سره فتحه
دمسلمانانو په برخه شوه دافتحه دهجرت په اوولسم کال
وشوه اودقادسيې دفتحې په نامه يادېږي .

دمداين فتحه :

دقادسيې دفتحې څخه وروسته دفارسيانو مات
فوځ دمداين خواته مخه وکړه ، ددجلې له سيند څخه پورې
وتل اودمداين په سنا رکې يې چې دفارسي دولت
پايتخت وو سنګر ونيوا وهغه پلونه يې چې ددجلې پر
سيند باندې جوړشوي وو وران کړل ترڅودمسلمانانو
درانګ مخه ونيسي .

کله چې اسلامي لښکر دفارسي ماتو فوځونو تعقيب

په لرکې د دجلې سیند ته ورسیدل او ټول پلونه یې
وران ولیدل . سعد بن وقاص ؓ د نورو مجاهدینو سره
یوځای په سیند ورګډ شول او د الله ﷻ په مرسته روغ
رمټ پوري وتل او د مداین ښارې محاصره کړه څه
وخت کلا بندي ځنډ وروسته د هجرت په اوولسم کال
روڼې د مداین ښار هم فتحه شو، د دې فتحې سره سم
د عراق خاوره د فارسیانو له لاسه ووته او په اسلامي
خلافت پورې وتړل شوه خلک یې په اسلام مشرف
شول .

د نهاوند فتحه :

څه وخت چې فارسیانو په عراق کې ماته وخوړه
او عراق د اسلامي خلافت پورې وتړل شو، د فارس

دا سنار د مکې معظمې په شان د مسلمانانو لپاره زیات
دیني اهمیت لري ځکه چې په عام ډول د اسلام د مقدس دین
خپریدل د همدې ځای څخه پیل شول او د اسلامي
خلافت مرکز وګرځید او د نبي کریم ﷺ مبارکه روضه هم په
همدې سنارکې ده .

د فیل کال

یمن چې د حجاز په جنوبي برخه کې پروت دی د اسلام
د مقدس دین د ظهور څخه د مخه د حبشیانو په لاس کې
وو . د یمن والي چې ابرهه نومیده د صنعا په سنارکې یوه
کلیسا (عبادتخانه) جوړه کړه او غوښتل یې چې د کعبې شریفې
عزت او اهمیت ، دې عبادتخانې ته منتقل کړي .

۱٤- ښوونکي ته لازمه ده چې د زده کوونکو په منځ کې دښه نیت او ورورولۍ فضا رامنځته کړي.

۱۵- ښوونکي دی د درس د اغیزمنتوب په خاطر خپل زده کوونکي وپیژني.

۱٦- ښوونکي باید خپلو زده کوونکوته په تدریس کې برخه ورکړي.

۱۷- ښوونکي دی ددرس په جریان او د درس په پای کې زده کوونکو ته د پوښتنو کولو حق ورکړي.

۱۸- ښوونکي دی زده کوونکو ته کورنۍ وظیفه ورکړي او د زده کوونکو کورنۍ وظیفې دې ملاحظه او اصلاح کړي.

۱۹- ښوونکي دی په تدریس کې له محیطي، ساده او ارزانو مواد وڅخه د جمعې، تفریق، ضرب او تقسیم په عملیوکې ګټه واخلي او همدارنګه ښوونکي دی په درس کې له چارټونو، نقشو، پوسټرونو او د سمعي او بصري له نورو موادو څخه کار واخلي.

۲۰- ښوونکي دی په داسې ډول د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ووایي چې په راتلونکي کې د دوی د پوښتنو کولو استعداد کمزورې نشي.

۲۱- ښوونکي دی زده کوونکي و پوهوي چې ددې کتاب تمرینونه خپلو کتابچوته نقل او هلته دې حل کړي.

۱

تاریخ

د افغانستان اسلامي امارت
د نښو ونې او روزنې وزارت
د تالیف او ترجمې ریاست
بسم الله الرحمن الرحیم
الله اکبر
والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا
۱۳۶۵هـ ش

اجتماعیات

(تاریخ او جغرافیه)

دپنځم ټولګي لپاره

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

لیکوالان: امین الله فرزانیار او پوهنوال لطف الله صافی

۱۳۷۶ کال

اجتماعیات

(تاریخ اوجغرافیه)

د پنځم ټولګي له پاره

لیکوالان: امین الله فرزانیار او پوهنوال لطف الله صافی

بیاکتونکي: دښوونې او روزنې دوزارت

او دافغانستان لپاره دتعلیمی پروژی ګډ کمیسیون

۱۳۷۵

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

په هيواد کې داسلامي انقلاب له بريالیتوب راوروسته دهيواد په ټولنيز رغښت کې اساسي بدلونونه رامنځ ته شول. له دې اساسي بدلونونو او ټولنيزو څرګندو غوښتنو سره سم دښوونې او روزنې وزارت وپتيله چې دښوونځيو تعليمي نصاب دښوونې او روزنې په برخه کې داسلامي دولت له پاليسيو او اهدافو سره سم داسلام دسپيڅلي دين پر اساساتوو دروي. له همدې امله نوی تعليمي نصاب جوړ او دلازمو پراوونو له تيرولو وروسته په عمل کښې پلی شو.

دنوی تعليمي نصاب پلی کولو دا اړتيا رامنځ ته کړی چې په دغه نصاب کی شامل مضمونونه دنويو مفرداتو له مخې له سره تدوين او تأليف شي. له نيکه مرغه دجهاد په څوارلس کلنه موده کې دهيواد داولاد دسمو روزلو په خاطر يو شمير درسي کتابونه دتعليمي مرکز له خوا له هيواد نه بهر (پيښور کې) تدوين او تأليف شوي وو. دی کتابونو دحجم او محتوا له مخې دهغه وخت له غوښتنو او شرايطو سره سمون درلود، خو داسا سي دوا ت له بريالیتوب راوروسته زمونږ دټولنې دڅرګندو اړتياوو او په هيواد کې دښوونې او روزنې دمرکزی سيستم له مخې بايد ددی کتابونو په متن او محتوا هر اړخيزه نوی کتنه وشي. له همدې امله دښوونې او روزنې دوزارت دتاليف او ترجمې رياست وګمارل شو چې دتعليمي مرکز دماهرانو او ليکوالو په مرسته موجوده کتابونه دنويو مفرداتو له مخې چې دواړو خوا و.مخکې له مخکې چمتو کړي وو، له سره وګوري او په هغو کې لازم تعديلات او سمون راولي ددی

کار لپاره ددواړو لوړیو دماهرانو او علمی غړو یو ګډ کمیسون په کار پیل وکړ.

دکمیسون غړو دنوو مفرداتو له مخې له اول ټولګي څخه تر دریم ټولګي پورې په درسي کتابونو له سره کتنه وکړه او په هغو کې داسلام دسپیڅلی دین له اساساتو، دافغانستان داسلامی دولت دپالیسي او فرهنګی اهدافو سره سم او دافغاني ټولنی دغوره ارزښتونو په نظر کې نیولو سره، دعلمی او فرهنګی معیارونو پر بنسټ، په ملي او بین المللي سطح دهیواد دبچیانو دښوونې او روزنې لپاره لازم بدلونونه راوړل شول.

دپورتنیو غوښتنو له مخې یی دمضامینو په مفرداتو له سره په نوی کتنې سره ددرسي کتابونو متن او محتوا اصلاح کړه. په همدی ډول دتعلیمي مرکز دمؤلفینو او دتألیف او ترجمې دریاست ددیپارټمنټونو دغړو له خوا په ګډه سره له ٤ څخه ١٢ ټولګي پورې په درسي کتابونو نوی کتنه وشوه او په هغو کښی لازم بدلونونه راوړل شول.

هیله لرو چې دا هلې ځلې، پدې سره په پوهیدلو چې ددرسي کتابونو تجدید نظر یوه اوږده پروسه او له پلي کیدو څخه مخکې دازمایښتونو او دتجربو دسرته رسولو مستلزم ده، دکار پیل وي او دلوي خدای جل جلاله په مرسته خپلو سپیڅلو اهدافوته ورسیږو. هیله منده یو چې دهیواد دمحترمو پوهانو، مسلکي شخصیتونو ښوونکو او نورو مینه والو هر اړخیزي مرستي او رغنده وړاندیزونه زمونږ ددی کار دبشپړ بری ضمانت وکړی.

و من الله توفیق

دتالیف او ترجمې ریاست

د ښوونکی لپاره لارښود

۱- ښوونکي باید ټولګي ته له ننوتو مخکې درسي پلان ولري.

۲- درسي پلان باید د درسي ساعت مطابق جوړشي.

۳- ښوونکي باید په تاکلي وخت ټولګي ته داخل شي.

٤- ښوونکي باید له پاکو جامو سره ټولګي ته ننووځي.

٥- ښوونکي باید ټولګي ته د ننوتو په وخت کې سلام واچوي.

٦- ښوونکي باید دنوی درس په پیل کې بسم الله ارحمٰن الرحیم ووایي.

۷- د (کلمو الناس علی قدر عقولهم) مقولې په نظر کې نیولو سره ښوونکي باید د زده کوونکو له سویې سره سم درس ورکړي.

۸- ښوونکي باید د درس لپاره ښه فضا برابره کړي.

۹- ښوونکي باید د درس د اغیزمنتوب په منظور په تدریس کې له دول دول روشونو ځخه کار واخلي.

۱۰- ښوونکي باید خپل ځان د یو همکار په توګه زده کوونکو ته ور وپیژني.

۱۱- ښوونکي باید د زده کوونکو کورنۍ کار وګوري او اصلاح یې کړي او هغوی دې خپلو غلطیوته متوجه کړي.

۱۲- ښوونکي باید د زده کوونکو حاضري واخلي.

۱۳- ښوونکي بایبد د تدریس په وخت کې خپل زده کوونکي ارزیابي کړي.